مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هېواد

ورځپاڼه

پنجشنبه | ۱٤٤٨/٠١/٩ هـ ق | ۱۴۰۵/۰۴/۴ هـ ش | 2026/06/25 م | خصوصي ګڼه: ٦٩ مه | پرله پسې ګڼه: ١٠٤١ مه | دوره: اتمه

اسلامي امارت:

د نشه‌يي توکو د مخنيوي په اړه د روسيې مثبت دريځ د ستاينې وړ دی

د اسلامي امارت مرستيال وياند د روسيې د ملي امنيت شورا د منشي د هغو څرګندونو هرکلی کړی چې ويلي يې دي اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کښت، توليد او قاچاق د مخنيوي لپاره اغېزناک اقدامات ترسره کړي دي.

د راپورونو له مخې، د روسيې د ملي امنيت شورا منشي سرګي شويګو ويلي، اسلامي امارت د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزې برخه کې پر خپلو ژمنو عمل کړی او د نشه‌يي توکو د قاچاق کمولو لپاره يې پراخ اقدامات ترسره کړي دي.

د اسلامي امارت مرستيال وياند ملا حمدالله فطرت ويلي، چې د سرګي شويګو هغه څرګندونې مثبتې ارزوي چې په افغانستان کې د نشه‌يي توکو د کښت، قاچاق او توليد کې کمښت ښيي.

ده ويلي: «حقيقت دا دی چې د افغانستان اسلامي امارت د نشه‌يي توکو برخه کې د پام وړ او بې‌ساري عمليات ترسره کړي، د اسلامي د قاطع او جدي هڅو په پايله کې د نشه‌يي توکو کښت او توليد نږدې صفر ته رسېدلی دی.»

فطرت زياته کړې، چې په دې برخه کې لا هم هڅې روانې دي، ترڅو په هېواد کې نشه‌يي توکي په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي.

د تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۳.۵ ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۶ پراختيايي پروژې منظورې کړې

د تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۳.۵ ميلياره افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظور کړې، د دوو پروژو تړونونه يې لغوه او په ۲۰ نورو پروژو کې يې اړين تعديلونه راوستلي دي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت خبرپاڼه کې راغلي. چې د ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه تر سره شوه او ورته ۴۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې.

سرچينه زياتوي، له بحث وروسته د شاوخوا ۳.۵ ميلياره افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظور شوې او په ۲۰ پروژو کې يو لړ اړين تعديلونه منظور شول.

خبرپاڼې له مخې، همداراز د دوو پروژو په اړه تاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د قيمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي، د دوه پروژو قراردادونه له دې کبله لغوه شول، چې ګټونکي شرکتونه يې د قراردادونو مطابق تطبيق ته چمتو نه وو او دغه شرکتونه له همدې امله د محروميت کمېټې ته معرفي شول ...

۷مخ

هند ته د سوداګرۍ او پانګونې خونې پلاوي سفر؛ د هندي پانګوالو ۲۰ کسيز پلاوی کابل ته راځي

د هند د پي‌اېچ‌ډي سوداګرۍ او صنايعو خونې مشر د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له رئيس سره په ليدنه کې ويلي، چې د هندي سوداګرو او پانګه‌والو يو شل‌کسيز

پلاوی به په نږدې راتلونکي کې افغانستان ته سفر وکړي او هلته به له نږدې د پانګونې فرصتونه وڅېړي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې خبرپاڼه کې راغلي، چې د دې خونې عمومي رئيس سيد کريم هاشمي هند ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د «پي‌اېچ‌ډي سوداګرۍ او صنايعو خونې» له رئيس او غړو سره وليدل.

سرچينه زياتوي، چې ياده ناسته د «افغانستان او هندوستان ترمنځ د سوداګريزو فرصتونو» ...

۷مخ

ماليزيا او افغانستان د اړيکو د لا پياوړتيا لپاره د دوامدار تعامل ملاتړ وکړ



د ماليزيا په پلازمېنه کوالالمپور کې د افغانستان سفارت سرپرست نقيب‌الله احمدي د افغانستان لپاره د ماليزيا له ځانګړي استازي او د بهرنيو چارو وزارت له سلاکار داتو احمد اعظم سره ليدنه وکړه.

ماليزيا کې د افغانستان سفارت وايي: په دې کتنه کې د دوه اړخيزو اړيکو پر پرمختګونو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو پر پياوړتيا خبرې شوې دي.

سياسي شنونکي باور لري چې د افغانستان او ماليزيا ترمنځ د اړيکو پراختيا د اسلامي نړۍ له مهمو هېوادونو سره د افغانستان د ډيپلوماتيکو اړيکو د پياوړتيا په برخه کې ارزښتناک ګام ګڼل کېږي. د دوی په اند، ماليزيا د سويل ختيځې اسيا له اغېزناکو اقتصادي او سياسي هېوادونو څخه دی او له دغه هېواد سره د اړيکو پراخېدل کولی شي افغانستان ته د سوداګرۍ، پانګونې، لوړو زده کړو او سيمه‌ييزو همکاريو په برخو کې نوي فرصتونه برابر کړي.

کارپوهان همدارنګه ټينګار کوي چې د افغانستان او ماليزيا ترمنځ دوامدار سياسي تعامل نه يوازې د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضا پياوړې کوي، بلکې د اسلامي هېوادونو په کچه د افغانستان د اړيکو د پراختيا، د نړيوال تعامل د زياتوالي او د متوازنې بهرنۍ پاليسۍ د پياوړتيا لپاره هم مهمه زمينه برابروي.

د امنيتي او تصفيوي کمېسيون ناسته؛ د محرم الحرام مراسمو لپاره ځانګړي امنيتي تدابير نيول شوي

د امنيتي او تصفيوي چارو مرکزي کمېسيون نوبتي غونډه د دغه کمېسيون د مسئول او د دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد په مشرۍ د کمېسيون د غړو په ګډون ترسره شوه.

ياد کمېسيون په يوه خبرپاڼه کې ليکلي، چې د غونډې ګډونوالو د هېواد د امنيتي وضعيت په اړه خپل نظرونه شريک کړل او عمومي وضعيت يې د ډاډ وړ وباله. همداراز په غونډه کې له ولايتونو څخه د لېږل شويو وړانديزونو ...

۷مخ

سرليکنه

د اقتصادي ثبات لپاره مهم ګامونه

د يوه هېواد حقيقي پرمختګ هغه مهال څرګندېږي چې د خلکو اساسي اړتياوو ته عملي ځوابونه وړاندې شي او د راتلونکو نسلونو لپاره داسې بنسټونه جوړ شي چې کلونه او لسيزې ګټه ترې واخيستل شي. شته واقعيتونه دا په ډاګه کوي چې بندونه، سړکونه، روغتونونه، د برېښنا شبکې او صنعتي تاسيسات د هر هېواد د اقتصادي ودې او ملي هوساينې له مهمو ستنو څخه دي. هره پانګونه چې په دغو برخو کې ترسره کېږي، د راتلونکي لپاره د پرمختګ نوې دروازې پرانيزي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون په وروستۍ غونډه کې د شاوخوا درې اعشاريه پنځه ميلياره افغانيو په لګښت ۱۶ پروژې منظورې شوې او د ۲۰ نورو پروژو تعديلونه هم تصويب شول. په دغو پروژو کې د بادغيس د قادس خوردک د اوبو ذخيروي بند، د بغلان د کيله‌ګي بند جيوټيکنيکي مطالعات، په پکتيکا کې د ۶۰۰ متريک ټنه ظرفيت لرونکې سړې خونې د پاتې چارو بشپړول، د امو نفتي حوزې لپاره د لس زره ټنه ظرفيت لرونکو تاسيساتو ډيزاين او نصب، په ارزګان کې د ۵۰ بستريز روغتون جوړول، په ترينکوټ کې د باروړونکو موټرو ترمينل، د کابل ښار د يو شمېر داخلي سړکونو جوړول او په بېلابېلو ولايتونو کې د برېښنا رسونې پروژې شاملې دي. د دغو ټولو پروژو لګښت د اسلامي امارت له بوديجې تمويلېږي.

د دغو پروژو ځانګړتيا دا ده چې د هېواد د اړتياوو بېلابېلې برخې پکې نغښتې دي. اوبه، روغتيا، ټرانسپورټ، انرژي او کرنه هغه برخې دي چې د خلکو له ورځني ژوند او د هېواد له اقتصادي وضعيت سره مستقيم تړاو لري. د دې پروژو پلي کېدل د زرګونو کورنيو پر ژوند اغېز لرلای شي او د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا لپاره مناسب شرايط رامنځته کولای شي.

د افغانستان اسلامي امارت له پيل څخه دا هڅه کړې چې هېواد پر خپلو پښو ودروي او داسې اقتصادي جوړښت رامنځته کړي چې افغانستان د تل لپاره د پرديو له اړتيا او اتکا څخه راووځي. د کانونو استخراج، د اوسپنې پټليو پراختيا، د درملو د توليد فابريکې، صنعتي پارکونه، د اوبو بندونه، د کرنې ملاتړ او د انرژۍ پروژې ټول د همدې ستر موخې برخې دي. دا اقدامات څرګندوي چې د هېواد د اقتصادي پياوړتيا لپاره منظم او دوامدار کار روان دی.

د اوبو بندونه او د برېښنا پروژې د ځان‌بسيا افغانستان لپاره ځانګړی ارزښت لري. د کرنې وده، د صنعت پراختيا او د کورنيو توليداتو زياتوالی له دغو برخو سره تړاو لري. هر بند چې جوړېږي، هره برېښنايي پروژه چې بشپړېږي او هره صنعتي پانګونه چې ترسره کېږي، د افغانستان اقتصادي ظرفيتونه لا پراخوي او د پرمختګ لپاره نوې زمينې برابروي.

د سيمې سياسي وضعيت او د ځينو ګاونډيو هېوادونو چلند هم افغانانو ته دا درس ورکړی چې د هېواد اصلي تکيه بايد پر خپلو امکاناتو او ظرفيتونو وي. له بلې خوا، اسلامي امارت توانېدلی چې له ګڼو هېوادونو سره اقتصادي او سياسي اړيکې پراخې کړي. د مرکزي اسيا هېوادونه، روسيه، چين، ايران او نور لوري نن له افغانستان سره د سوداګرۍ، ټرانزيټ او پانګونې په برخو کې د همکاريو لېوالتيا لري. دا وضعيت د افغانستان لپاره نوي فرصتونه رامنځته کوي او د اقتصادي ودې افق لا پراخوي.

د تدارکاتو کمېسيون وروستۍ پرېکړې د يوه پراخ اقتصادي ليد انعکاس دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې د ملت د هوساينې، اقتصادي پياوړتيا او ملي پرمختګ لپاره بنسټيز کارونه ترسره کړي. که دغه پروژې په برياليتوب سره بشپړې شي، د خلکو ژوند به لا ښه شي، اقتصادي فعاليتونه به پراخ شي او افغانستان به د يو باثباته او پر ځان‌بسيا راتلونکي پر لور نور هم نږدې شي.

د بريکس غړو هېوادونو د افغانستان د ثبات او اقتصادي مشارکت پر ارزښت بحث وکړ

د بريکس غړو هېوادونو د ملي امنيت سلاکارانو شپاړسمه دوه ورځنۍ غونډه د هند په پلازمېنه نوي ډيلي کې د هند د ملي امنيت سلاکار اجيت دووال په مشرۍ ترسره شوه، چې پکې د سيمه‌ييز امنيت، ګډوننکونو او د ثبات د پياوړتيا په اړه هر اړخيز بحثونه وشول.

د هندي رسنيو د راپورونو له مخې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو او روانو امنيتي مسايلو ارزونه هم د غونډې له مهمو اجنډاوو څخه وه. ګډونوالو د سيمې د امنيتي وضعيت، اقتصادي همکاريو او د ګډو ګواښونو د مديريت په اړه خپل نظرونه شريک کړل.

سياسي شنونکي باور لري، چې د بريکس په چوکاټ کې د چين، روسيې او نورو سيمه‌ييزو هېوادونو حضور کولی شي د افغانستان د ثبات، اقتصادي پرمختګ او سيمه‌ييز اتصال لپاره مثبت فرصتونه رامنځته کړي. دوی ټينګار کوي، چې افغانستان د سيمې د وصل مهمه کړۍ ده او هره سيمه‌ييزه همکاري بايد د افغانانو د ملي ګټو، خپلواکۍ او اقتصادي ...

۷مخ

افغانستان او قزاقستان د ۲۳۵ ميليونه ډالرو په ارزښت سوداګريز تړونونه لاسليک کړل

د قزاقستان د سوداګرۍ او ادغام وزارت ويلي، چې په کابل کې د افغانستان او قزاقستان د سوداګريز فورم پر مهال د شاوخوا ۲۳۵ ميليونه ډالرو په ارزښت هوکړه‌ليکونه او سوداګريز قراردادونه لاسليک شوي دي. دغه تړونونه د قزاقستان د صدراعظم مرستيال ...

۷مخ

قطر له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې پياوړې اړيکې غواړي

د المپيک، بدني روزنې او ورزش عمومي رئيس مولوي احمدالله وثيق په افغانستان کې د قطر له سفير ډاکټر مردف علي القاشوطي سره د ليدنې پر مهال د ورزشي همکاريو او اړيکو د پراختيا په اړه خبرې کړې دي.

د المپيک، بدني روزنې او ورزش عمومي رياست د معلوماتو له مخې، مولوي احمدالله وثيق په دې ليدنه کې د افغانستان د ورزش وروستۍ لاسته راوړنې شريکې کړې او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د ورزشي اړيکو پر لا پياوړتيا ټينګار کړی دی ...

۷مخ

د کډوالو وزارت د ۵.۲ ميليونه ډالرو په ارزښت پنځه تړونونه لاسليک کړي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وايي، چې له يو شمېر همکارو بنسټونو سره يې د څه باندې ۵ ميليونه او ۲۹۹ زره امريکايي ډالرو په ارزښت پنځه هوکړه‌ليکونه لاسليک کړي دي.

د ياد وزارت په وينا، دغه هوکړه‌ليکونه د بېرته راستنېدونکو د ژوند د ښه کېدو او ملاتړ په موخه ترتيب شوي، چې پکې نغدي مرستې، د استوګنځايونو ترميم، زده‌کړې، د ماشومانو پالنه او د ټولنيزو جوړښتونو د ظرفيت لوړول شامل دي ...

۷مخ

د عاشورا ورځ؛ د انبیاوو د تاریخ یوه مبارکه خاطره

احمد ولید کنان

د بشري تاریخ په اوږدو کې ځینې ورځې داسې ځانګړې ارزښت لري چې د وخت له عادي بهیر څخه پورته د ایمان، عبرت، الهي رحمت او تاریخي درسونو سترې معناوې په ځان کې راټولوي. د محرم لسمه، چې د عاشورا په نوم پېژندل کېږي، له همدې مبارکو ورځو څخه ده. دا ورځ یوازې د یوه تاریخي مناسبت نوم نه دی، بلکې د انبیاوو علیهم السلام د مبارزو، د الهي نصرت د څرګندېدو او د حق د بریا یوه ژوندۍ خاطره ده.

د عاشورا اهمیت د دې ورځې له هغه پیغام څخه سرچینه اخلي چې انسان د الله تعالی قدرت، د مؤمنانو د صبر او د ظالمانو د زوال حقیقت ته متوجه کوي. محرم د هجري کال لومړۍ میاشت ده او الله تعالی په قرآن کریم کې هغه له درنو او محترمو میاشتو څخه یاد کړې ده. الله تعالی فرمایي: (إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ ... مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ). دا آیت څرګندوي چې ځینې وختونه او ځینې ورځې د الهي حکمت له مخې ځانګړی مقام لري. محرم د همدې مبارکو میاشتو له ډلې څخه ده او عاشورا یې تر ټولو مشهور او فضیلت لرونکې ورځ ده.

د عاشورا یا د محرم لسمې له ورځې سره تر ټولو مهمه تاریخي پېښه د حضرت موسی علیه السلام او د هغه د قوم نجات دی. کله چې فرعون د بنی اسرائیلو پر ضد د ظلم او استبداد وروستۍ هڅه وکړه او د خپلو لښکرو په ملتیا یې د حضرت موسی علیه السلام او د هغه د پیروانو تعقیب پیل کړ، ظاهراً ټولې لارې بندې ښکارېدې. د یوې خوا لوی سمندر و او د بلې خوا د فرعون ځواکمن پوځ. په همدې حساس وخت کې الله تعالی خپل نبي ته امر وکړ چې خپله امسا پر سمندر ووهي. قرآن کریم دا صحنه داسې بیانوي: (فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ). سمندر وشړېده، د نجات لار پرانیستل شوه او مؤمنان د الهي مرستې شاهدان شول.

همدا پېښه د عاشورا د ورځې اصلي پیغام جوړوي. د تاریخ په هر پړاو کې داسې شېبې راغلې چې حق د ظاهري امکاناتو له کمښت او باطل د ځواک او واکمنۍ له زیاتوالي سره مخامخ شوی دی. د حضرت موسی علیه السلام کیسه انسان ته دا حقیقت ور په یادوي چې د مادي قدرتونو تر شا یو لوړ قدرت هم شته چې د هر څه واک د هغه په لاس کې دی. فرعون د خپل وخت تر ټولو ځواکمن واکمن و؛ خو قرآن کریم د هغه د پای په اړه فرمایي: (فَأَغْرَقْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ جَمِيعًا). د دې آیت پیغام یوازې د یوه فرد یا یوه قوم په اړه نه دی، بلکې د الهي سنت یوه څرګندونه ده چې ظلم او سرکښي دوام نه مومي.

کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ، وې لیدل چې یهود د عاشورا په ورځ روژه نیسي. د علت په پوښتنه کې هغوی وویل چې دا هغه ورځ ده چې الله تعالی حضرت موسی علیه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړ. رسول الله ﷺ وفرمایل: «نحن أحق بموسى منكم»؛ یعنې موږ د موسی علیه السلام له پیغام او لارې سره تر تاسو ډېر نږدې یو. وروسته یې د عاشورا روژه ونیوله او مسلمانان یې هم دې مبارکې ورځې ته متوجه کړل. له همدې امله د اهل سنت والجماعت او د حنفي فقهې د علماوو په نزد د عاشورا تر ټولو مهم او ثابت عمل روژه ده.

د محرم الحرام لسمه ورځ د انبیاوو د مبارزو یوه ګډه خاطره هم ده. د انبیاوو تاریخ ته په کتلو سره دا حقیقت څرګندېږي چې د حق لار تل له ازموینو سره مل وي. حضرت نوح علیه السلام د خپل قوم له انکار سره مخ شو، حضرت ابراهیم علیه السلام د نمرود له استبداد سره مقابله وکړه، حضرت موسی علیه السلام د فرعون پر وړاندې ودرېد او حضرت محمد ﷺ د قریشو له سخت مخالفت سره مخ شو. د دغو ټولو مبارزو یو ګډ ټکی دا و چې مؤمنانو پر خپل رب توکل وکړ او د سختیو پر مهال یې د حق له لارې لاس وانخیست.

د عاشورا په ورځ د صبر او استقامت درس په ځانګړې توګه روښانه کېږي. د حضرت موسی علیه السلام د ژوند کیسه ښیي چې الهي مرستې تل د انسان د غوښتنې له مهالوېش سره نه راځي، بلکې د الله تعالی د حکمت له مخې راځي. کلونه کلونه مبارزه، هجرت، ستونزې او ازموینې تېرې شوې؛ خو پایله یې بریا وه. همدا درس نن هم د مسلمان لپاره ارزښت لري. انسان کله ناکله د ستونزو د اوږدېدو له امله ناهیلی کېږي؛ خو د انبیاوو تاریخ ښیي چې صبر، اخلاص او استقامت د بریا تر ټولو مهم عوامل دي.

د عاشورا بله مهمه معنا د شکر مفهوم دی. کله چې الله تعالی خپل نبي او د هغه قوم ته نجات ورکړ ...

۷مخ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اداري او سیاسي چارې

لیکوال: مفتي نورالله عزام

دوه ویشتمه برخه

د نبوي دولت مالي چارې

(اقتصادي نظام)

۵_د نبوي دولت ودانیزې او صنعتي چارې او د وسلو جوړونه

الف: مدینه منوره کې ودانۍ جوړول

مدینه منوره چې پخوانی نوم یې یثرب و لکه په سېمه ییزه کچه چې د زراعت او صنعت مشهور ښار و دغه راز یې په ځواکمنو کلاوو کې هم نوم درلود، د مدینې مېشتو عربي قبایلو اوس او خزرج او د یهودو قبایلو د ژوند تېرولو او ځان د دفاع لپاره ډېرینې کلاوې جوړې کړې وې. کله چې مسلمانانو مدینې ته هجرت وکړ، د تجارت ترڅنګ رغونې ته یې هم پاملرنه وکړه، ځکه دوی اړتیا لرله چې مدینه کې د نوي ژوند له پیل سره هلته ځان ته د استوګنې لپاره ودانۍ جوړې کړي. نبي علیه السلام هم مسلمانان هڅول چې ځمکې، ودانۍ او کورونه جوړ کړي. ځینو مسلمانانو ته یې آن د کورونو جوړولو پلان هم ورکړ، د کور لپاره یې ځایونه ورته مشخص کړل، کرښې یې ورته وویستلې او بیا یې لارښوونې ورته وکړې چې په کور جوړلو کې ټول دودیز او اخلاقي اصول په پام کې ونیسي.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسجد نبوي ترڅنګ خپلو مېرمنو لپاره خونې جوړې کړې، دغه خونې یې له خټینو خښتو جوړې کړې، بامونه یې د خرماوو د ونو له ښاخونو څخه وپوښل او بیا یې له پاسه کمه اندازه خټې پرې واچولې. له روایتونو داسې برېښي چې تر هجرت وروسته په مدینه منوره کې ګڼ شمېر ودانۍ جوړې شوې دي، چې یو له هغو څخه د مسجد نبوي ودانۍ وه، پردې سربېره رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې په څنډو کې د قبایلو لپاره مختلف مساجد تأسیس کړل، مسلمانانو ته به یې د مسجد پلان جوړ کړ، د قبلې لوری به یې ورته معلوم کړ، د مسجد لپاره به یې ځای او ځمکه ورته وټاکله او بیا به خلکو ودانۍ پرې جوړې کړې، لکه د «جُهینه» قبیلې لپاره چې یې په مدینه کې مسجد جوړ کړ او په مدینه منوره کې له مسجد نبوي پرته ټول نهه مساجد جوړ شول چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ټولو د مسجد نبوي په اذان لمونځونه کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ودانیو جوړولو په چارو کې هغه څوک پر نورو وړاندې کاوه چې په کار ښه پوهېده، که څه هم په تقوا کې تر نورو کم وو. یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بني حنیفه یو وفد راغی، په دوی کې یو تن «طَلق بن علی الحنیفي» تکړه خټګر و، دغه مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسجد نبوي توسیع کوله او له صحابوو سره په ودانۍ جوړولو بوخت و، نو ده هم ورسره ختې پیل کړې، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې طلق ولید نو ورته وېې ویل: «دعوا الحنفي والطین؛ فإنه أضبطكم للطین» ، (حنیفي پرېږدئ چې کار وکړي، بې شکه دی په تاسو کې تکړه خټګر دی) هغه سمدستي بېلچه واخیسته او خټه او اوبه یې سره ګډ کړل، رسول الله ورته کتل نو ورته وېې فرمایي: «إن هذا الحنفي لصاحب الطین» .(بې شکه دا حنفي ماهر خټګر دی).

پخوا په عربو کې د ښار او ځان د دفاع په خاطر خندق کیندل دود نه وو، په غزوة الاحزاب کې چې د مکې مشرکانو او متحدینو یې پر مدینه برید کاوه؛ نو سلمان فارسي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مشوره ورکړه چې د مدینې د دفاع په خاطر دې خندق وکندل شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مشوره ومنله، د خندق د کندلو لپاره یې د مسلمانانو د استوګنې شاته د سِلع غره څخه خندق پیل کړ، د مدینې له شرقي میدان (حَرّه شرقیة) څخه تر غربي میدان (حَرّه غربیه) پورې یې د خندق کندلو ځای وټاکه او د خندق د عاجل کندلو لپاره یې هر لس نفري ګروپ ته څلوېښت ذراعه (لاسه) ځای وټاکه، چې هر نفر ته څلور ذراعه ځای ورسېد، مسلمانانو کوشش وکړ چې دا کار ژر سر ته ورسوي، هرڅوک چې به د خپل ټاکلي ځای څخه فارغ شو؛ نو د نورو ملګرو مرستې ته به ورغلل، ځکه د خندق ځمکه ځای ته په کتو یو ډول نه وه، ځینې ځایونه کلک او ځینې ځایونه پاسته وه. نبي علیه السلام به پخپله له صحابوو سره کار کاوه او هغه کلکه ډبره یې په خپله ماته کړه چې په خندق کې را ووتله. رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق په کندلو کې له مختلفو وسایلو کار واخیست، په بېلچې او قلنګ یې کار وکړ، ځینې وسایل یې له بنو قریضه څخه په کرایه را واخیستل او په لنډه موده کې چې ځینې سیرت پوهان یې شپږ ورځې ګڼي د خندق د کندني کار بشپړشو.

ب: وسلو جوړولو ته ځانګړې پاملرنه کول

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د وسلو جوړول یو له مهمو صنعتونو څخه و او اسلامي دولت به ځانګړې پاملرنه ورته کوله، ځکه د اسلام خپرول وسلې او ځواک ته اړتیا لرله او رسول الله صلی الله علیه وسلم به د وسلو جوړولو په اړه ځانګړې لارښوونې کولې، مسلمانان یې تشویقول چې وسلې جوړې کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُدْخِلُ الثَّلَاثَةَ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ الْجَنَّةَ صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ وَالْمُمِدَّ بِهِ وَالرَّامِيَ بِهِ» .

ژباړه: الله تعالی به په یوه غشي درې نفره جنت ته داخل کړي، د غشي جوړونکی، چې په جوړولو کې یې د خیر نیت وکړي، د غشي مرسته کوونکی او وېشتونکی.

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک هڅول چې نېزې جوړې کړي، وېې فرمایل: «بهذا القوسِ وبِرِماحِ القَنا يُمَكِّنُ اللهُ لكُم في البِلادِ ويَنصُرُكُم على عَدُوِّكُم» .

ژباړه: په دغې لیندۍ او په بشپړې نېزې سره به الله تعالی تاسو پر ښارونو واکمن کړي او پر خپل دښمن به مو برلاسي کړي.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ عَلَّمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ مِنَّا» . (چا چې وېشتل زده کړه او بیا یې پرېښودل نو هغه زموږ له امت څخه نه دی) همدا لامل و چې پخوانیو علماوو به د عمر تر اخره رمي کوله، چې یو له هغو څخه امام احمد و، له هغه نه په وروستي عمر کې پوښتنه وشوه چې په دې عمر کې هم ته غشي ویشتل کوې، هغه په ځواب کې همدا حدیث ورته بیان کړ. د دې حدیث مطلب دا دی چې مسلمان باید د عمر تر وروستۍ شېبې پورې رَمي وکړي او چمتو وي او هېڅ کار او مصروفیت یې مخه ونه نیسي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په جګړه کې د هغه مهال له ثقیله وسلو هم استفاده کوله، مسلمانانو ته یې امر کړی و چې دغه ډول وسلې زده کړي، نبي علیه السلام دوه تنه صحابه عروه بن مسعود او غیلان بن سلمه د اوسني اردن مشهور ښار «جُرش» ته چې هغه مهال د رومي واکمنۍ برخه وه، د ثقیله وسلو د زده کړې لپاره لېږلي وو، هغوی هلته د منجنیق جوړول زده کړل، په دې سره مسلمانانو د ثقیله وسلو زده کړه هم ترلاسه کړه چې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم عملاً د طایف په محاصره کولو کې ګټه ورڅخه واخیستله. هغه مهال نجاري هم یو مهم کسب وه، نجارانو به د اسلامي پوځ لپاره کار کاوه، ځینې وسلې به دوی جوړولې، د هغه وخت انتقالي کراچۍ او منجنیقونه به نجارانو جوړول، دغه راز د نېزو په جوړولو کې هم د نجارانو رول وه، له روایتونو داسې برېښي چې په مدینه منوره کې زیاتره نجاران غلامان وو، ځکه عربو له صنعت سره ډېره لېوالتیا نه لرله.

ج: صنعت ته پاملرنه کول

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ډول ډول صنعتونه کېدل چې مشهور یې آهنګري وه. په صحابوو کې خباب بن ارت یو له مشهورو آهنګرانو څخه و، نوموړي دا کسب په مکه کې زده کړی و. دغه راز کله چې نبي علیه السلام خیبر فتح کړ نو له ځان سره یې ډېرش تنه آهنګران مدینې ته راوستل ترڅو په مدینه کې دغه صنعت وده وکړي. دې خلکو به توري، غشي، نېزې او هغه وسایل جوړول چې خلکو ورته په ورځني ژوند کې اړتیا لرله، له دې څخه معلومېږي چې نبي علیه السلام صنعت ته ځانګړې پاملرنه کوله.

په مدینه منوره کې زرګري هم یو له مشهورو کسبونو څخه وه، د قینقاع یهودیانو په دغه کسب کې ځانګړې شهرت درلود، په مختلفو روایتونو کې راغلي دي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی له خپلې کلا څخه وویستل، نو په کورونو کې یې ډول ډول زیورات وموندل شول، دوی به د زرو ګېڼې جوړولې، هغه مهال د ټپیانو د درملنې لپاره د بدن په ځینو غړو کې له سپینو او سرو زرو هم کار اخیستل کېده. عثمان بن عفان رضی الله عنه خپل غاښ په سرو زرو پوښلی وو. د عرفجه بن اسعد رضی الله عنه پوزه تر اسلام د مخه په یوه جګړه کې پرې شوې وه، بیا یې ځان ته د سپینو زرو پوزه لګولې وه، هغې بوی کاوه، بیا نبي علیه السلام ورته امر وکړ چې د سروزرو پوزه دې ولګوي. همداراز دوی به ګوتمۍ جوړولې او په تورو کې یې هم سپین او سره زر کارول ترڅو د وسلې قدر او فخر پرې وکړي.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوي دولت په جغرافیه کې ځینې معادن خلکو ته ورکړي او ترڅو ګټه ترې واخلي. یو ځل یې بلال بن الحارث المزني ته چې د مدینې په یوه څنډه کې اوسېده، لیک ور ولېږه چې د خپلې سیمې له معدن څخه ګټه واخلي. په ځینو روایتونو کې راغلي دي چې نبي علیه السلام مدینې ته څېرمه د «الاحسن معدن» او د «بحران» معدن ځینو قبایلو ته ورکړی و، څو استفاده ترې وکړي او دولت ته یې هم ګټه راشي. په مدینه منوره کې خیاطي هم یو له مهمو کسبونو څخه شمېرل کېده او د مسلمانانو په راتلو سره په مدینه کې دغه کسب نور هم زیات شو، ځکه د اسلامي دولت یوه ځانګړتیا دا وه چې خلک به یې متمدن ژوند ته رابلل، هغه مهال به عرب کوچیانو د خیاطي کالي ډېر نه کارول او دغه کسب ته یې په درنه سترګه نه کتل؛ خو په مدینه کې خیاطي ډېره عامه وه، تر دې چې یو ځل یو خیاط د خپل کسب څخه په تر لاسه شوي پیسو نبي علیه السلام ته مېلمستیا وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مېلمستیا ته ورتګ ارین وباله، بلنه یې ومنله او ورغی څو د مسلمانانو له دغه کسب سره لېوالتیا زیاته شي او له زړونو یې د دغه کسب تحقیر ورک شي.

په اسلامي دولت کې چې څومره صنعت او پرمختګ کېده، د دې ټولو چارې او سرپرستي اسلامي دولت کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به خلک هڅول چې صنعت وکړي، څو مسلمانانو کې د ځان بسیاینې فکر پیدا شي او د نورو له اړتیا خلاص شي په ځانګړې توګه هغه ستراتېژیکي اړتیاوې چې دولت پرې تکیه وي لکه وسلې او نور وسایل... د دې ترڅنګ نبوي دولت د ټولنیز ژوند لپاره هم ځینې داسې اصول وضعه کړل چې اقتصادي جنبه یې لرله، ځینې سرغړونې او جرایم یې په اقتصادي لارو حل کول، د نکاح لپاره یې مهر وټاکه، په قتل خطاء کې یې د مقتول د وارثانو لپاره دیت وټاکه، په ځینو مواردو کې چې به چا ته کوم جسماني زیان اوښت د هغه بدله به یې په اقتصادي تګلاره ورکوله څو د خلکو ژوند په ښه توګه تنظیم کړي.

اروپايي ټولنې ته د افغان پلاوي بلنه؛ د تعامل نوی پړاو که د اړتيا له مخې ډيپلوماسي؟

خالد افغان

د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ د بروکسل وروستۍ ناسته د هغو بدلونونو څرک دی چې د ظاهري اجنډا تر شا پراخ سياسي او ډيپلوماتيک پيغامونه لري. که څه هم د دواړو لورو له خوا هڅه شوې چې دغه ليدنې تر ډېره د قونسلي خدمتونو، کډوالو، د سفر اسنادو او تخنيکي همکاريو په چوکاټ کې تعريف شي؛ خو د نړيوال سياست په قاموس کې دا ډول ناستې تر ډېره د هغو اړيکو ښکارندويي کوي چې ورو ورو له مطلقې فاصلې او انزوا څخه د محدود تعامل پر لور حرکت کوي.

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت وياند او د اروپا لپاره د څلورم سياسي رياست رئيس عبدالقهار بلخي په مشرۍ يوه پلاوي د اروپايي ټولنې په بلنه بروکسل ته سفر وکړ او هلته يې د اروپايي ټولنې او د هغې د يو شمېر غړو هېوادونو له استازو سره خبرې اترې وکړې. د بهرنيو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دغو خبرو کې د افغانانو لپاره د قونسلي خدمتونو پراختيا، د باور جوړونې اقدامات، د بېرته ستنېدونکو افغانانو د ستونزو حل او د متقابل تعامل پر ځينو عملي اړخونو بحث شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۲۱ کال له اګست وروسته، کله چې اسلامي امارت بيا واک ته ورسېد، د افغانستان او لوېديځو هېوادونو ترمنځ اړيکې د بې باورۍ، سياسي اختلافاتو او محدود تعامل تر سيوري لاندې پاتې شوې. اروپايي ټولنې د اسلامي امارت حکومت په رسميت ونه پېژاند؛ خو په عين حال کې يې خپلې اړيکې هم په بشپړه توګه پرې نه کړې. د بشري مرستو، د ملګرو ملتونو د پروګرامونو او محدودو تخنيکي تماسونو له لارې يو ډول غيرمستقيم تعامل دوام لا هم روان و.

له همدې امله، بروکسل ته د افغان پلاوي سفر بايد د يوې جلا او ناڅاپي پېښې په توګه ونه ارزول شي، بلکې د هغو تدريجي تماسونو دوام وګڼل شي چې له تېرو څو کلونو راهيسې د بېلابېلو لارو او چينلونو له لارې روان وو.

ولې دا سفر مهم دی؟

د دې سفر اهميت له دې ځايه جوتېږي چې دا د اسلامي امارت د دويمې واکمنۍ له پيل وروسته لومړی ځل دی چې يو رسمي افغان پلاوی د اروپايي ټولنې په بلنه بروکسل ته ځي او هلته د اروپايي هېوادونو له استازو سره مخامخ ناستې ترسره کوي. د نړيوال سياست په ډګر کې بلنه خپله يو ډيپلوماتيک پيغام لري. هېوادونه او نړيوال سازمانونه عموماً هغو لورو ته رسمي بلنه نه ورکوي چې ورسره د اړيکو هېڅ اړتيا ونه لري. همدا حقيقت د دې ناستې اهميت او مبرميت زباتوي.

که څه هم د اروپايي ټولنې له خوا ټينګار شوی چې دا ناسته د رسميت پېژندنې يا سياسي مشروعيت له موضوع سره تړاو نه لري؛ خو بيا هم د بروکسل په کچه د افغان پلاوي کوربتوب دا څرګندوي چې اروپايي هېوادونه د افغانستان له اوسني واقعيت سره د تعامل اړتيا احساسوي.

تر دې وړاندې هم د اروپايي ټولنې او اسلامي امارت ترمنځ تماسونه موجود وو؛ خو ډېری يې په کابل، دوحه، استانبول او يا د نړيوالو سازمانونو د منځګړيتوب له لارې ترسره کېدل. د بروکسل ناسته ځکه ځانګړې ده چې دا ځل د اړيکو نيونې او د مذاکراتو د مېز جغرافيه، قطر يا کوم منځګړی هېواد نه و، بلکې د اړيکې دا جغرافيه خپله اروپا وه.

د تعامل تر شا د واقعيتونو

اصلي پوښتنه دا ده چې ولې اروپايي ټولنې دا احساس کړې چې افغان پلاوی بروکسل ته وروبولي؟

د دې پوښتنې ځواب د افغانستان او اروپا دواړو په دوه اړخيزو اړتياوو کې نغښتی دی. د نړيوال سياست تجربې ښودلې چې دولتونه او نړيوال سازمانونه تر ډېره د ارزښتونو او انتقادونو پر ځای د واقعيتونو او اړتياوو له مخې عمل کوي. اروپايي ټولنه که هر څومره سياسي انتقادونه هم ولري، نه شي کولی له هغه واقعيت څخه سترګې پټې کړي چې نن د افغانستان ګوټ ګوټ خاوره د اسلامي امارت تر کنټرول لاندې ده او د هېواد ټول اداري، امنيتي او اجرايي جوړښتونه د همدې حکومت له لوري اداره کېږي. اروپا له افغانستان سره د اړيکو پرېکون اړتيا نه لري، ځکه ګڼې داسې موضوعګانې شته چې حل يې له کابل سره له تماس پرته ناشونی دی. د کډوالو مسئله، د قونسلي خدمتونو اړتيا، د سفر اسناد، د بشري مرستو رسونه، د امنيتي اندېښنو مديريت او د سيمې ټيکاو هغه موارد دي چې د تعامل اړتيا رامنځته کوي. يا په نورو ټکو، اروپايي ټولنې له افغانستان سره اړيکو ته د کومې مينې يا خواخوږۍ له مخې د بلنې او هرکلي لاس نه دی راغځولی، بلکې د عملي اړتيا له مخې خبرو ته چمتو شوې ده.

د کډوالو مسئله؛ د بروکسل د خبرو اصلي محور

داسې ښکاري چې د بروکسل د خبرو تر ټولو مهم محور د افغان کډوالو موضوع وه. په وروستيو کلونو کې زرګونه افغانان اروپايي هېوادونو ته تللي دي. د دوی يوه برخه د پناه غوښتنې د دوسيو د رد کېدو له ستونزې سره مخ ده. ګڼ شمېر کسان داسې دي چې نه د قانوني اقامت اسناد لري او نه هم د بېرته ستنېدو روښانه ميکانېزم.

اروپايي هېوادونه غواړي د دغو افرادو د بېرته ستنېدو لپاره يوه منظمه او قانوني لاره رامنځته کړي، خو دا کار د کابل له همکارۍ پرته شونی نه دی. له همدې امله، د بروکسل ناسته د ۲۰۲۶ کال په جنوري کې ...

۶مخ

ايا شرارت او تزوير؛ له دې پرته بل څه دی؟

عبدالهادي روان

په داسې حال کې چې د ايران د اسلامي جمهوريت او امريکا ترمنځ ډيپلوماتيکې خبرې روانې دي، د ۱۴ ماديزې موافقې مسوده هم په رسنيو او انټرنيټي مطبوعاتو کې لاس په لاس ګرځي او د سيمې ډېری هېوادونو يې هرکلی کړی دی. صهيونيستي ځواکونو تېره يکشنبه پرته له دې چې له کوم لوري کومه پلمه يا بهانه موجوده وي، د بيروت پر ځينو سيمو پوځي بريدونه ترسره کړل. دا کار ښيي چې نتنياهو د اوربند د پروژې د سبوتاژ لپاره وروستۍ او ناهيلې هڅې کوي، څو له يوې خوا که وکولای شي ځان د ايران او امريکا د رسمي مذاکراتو برخه وګرځوي او له بلې خوا د خپلې خوښې موضوعات د موافقې په نهايي مسوده کې داخل کړي.

ډونالډ ټرمپ هم وروسته په ټروت سوشل کې وليکل چې د اسرائيلو د يکشنبې بريد پر بيروت بايد نه وای شوی، په ځانګړي ډول په داسې حال کې چې واشنګټن او تهران د يوې موافقې ترلاسه کولو ته ډېر نږدې شوي دي؛ خو نوموړي په عين وخت کې وويل چې اسرائيل د ځان د دفاع حق لري او د هغې حملې په غبرګون کې چې «هېڅ تلفات او ټپيان نه لري» بايد د موافقې د ترلاسه کولو بهير له خنډ سره مخ نه شي.

له دې وروسته نتنياهو اعلان وکړ چې د هغه هېواد ځواکونه به له هغو سيمو څخه چې تر کنټرول لاندې يې دي، په لبنان او سوريه کې ونه وځي. نوموړي په يوه خبري غونډه کې ټينګار وکړ چې د اسرائيلو پوځ به په اشغال شويو لبناني سيمو کې خپل حضور ته دوام ورکړي او له دغو سيمو شاتګ د ده د حکومت په اجنډا کې ځای نه لري. هغه زياته کړه چې د امريکا او ايران احتمالي توافقات له موږ سره هېڅ تړاو نه لري.

د يادونې وړ ده چې صهيونيستي ځواکونه د لبنان په تش په نامه «امنيتي حايل سيمه» کې شاوخوا ۵۷۰ کيلومتره مربع لبناني خاوره اشغال کړې ده.

د دې وضعيت په مطالعې سره په څرګنده ليدل کېږي چې صهيونيستي رژيم پرته له کومې پلمې د يوه خپلواک هېواد پر حريم يرغل کړی او په ډېر حساس وخت کې يې داسې شور او زوږ رامنځته کړی چې ټول پوهېږي د منځني ختيځ کړکېچ او د ايران د اسلامي جمهوريت پر ضد د امريکا او اسرائيلو جګړه، ټوله خليجي سيمه او منځنی ختيځ بې ثباته کړي او د نړۍ اقتصاد او صنعت يې له جدي ننګونو سره مخ کړی دی. تر دې چې خپله ټرمپ هغو هېوادونو ته چې د ده تر نفوذ لاندې دي، پټې لارښوونې ورکوي څو د اوربند پروګرام مخته يوسي؛ خو اوس چې د اوربند او د جګړې د پراخېدو د مخنيوي لپاره د توافق شېبې رانږدې شوې دي، داسې ښکاري چې د ټرمپ حکومت او نتنياهو دواړه په پټه همغږۍ په غير مستقيم ډول هڅه کوي پر ايران لا زيات فشار راولي، څو خپلې استعماري غوښتنې د مذاکراتو په وروستيو شېبو کې د خبرو اجنډا او وروستۍ توافقنامې ته داخلې کړي.

يا لږ تر لږه غواړي خپل دريځ د امريکا او ډونالډ ټرمپ له دريځ څخه جلا وښيي، څو د هغې ماتې نښه چې د ايران د اسلامي جمهوريت په وړاندې د ده پر پلانونو لګېدلې ده، ترې لرې وښايي، ځکه چې د نړيوالو جګړو د اصولو له مخې، کله چې د جګړې پيل کوونکی لوری اوربند ته بلنه ور کوي، دا د ماتې نښه ګڼل کېږي، او همدا د نتنياهو او ټرمپ ترمنځ د وروستيو اختلافاتو يو لامل بلل کېږي.

ټرامپ له يوې خوا ځان د تاوتريخوالي د مهارولو پلوی ښيي او خلکو ته د موافقې زېری ورکوي؛ خو له بلې خوا په غير مستقيمه توګه نوې پلمې او فشارونه هم رامنځته کوي. دغه ډول تناقضونه او چلونه د لوېديځو سکولر ټولنو د اخلاقي کمزورۍ محصول دي؛ خو د ايران اسلامي جمهوريت دا ټول تحرکات په ډېر دقت څاري او په دې برخه کې څو ځله تر خپل مقابل لوري زيات هوښيار ثابت شوی دی. تر دې چې د ډېرو کارپوهانو له نظره يې د غوره مذاکره کوونکي مقام خپل کړی دی.

د پاملرنې وړ ده چې ټرامپ په خپلو څرګندونو کې ويلي دي چې اسرائيل د ځان د دفاع حق لري؛ خو دی دا پوښتنه نه کوي چې اصلاً پر اسرائيلو چا بريد کړی و چې هغوی د ځان د دفاع په نوم پر لبنان او بيروت پوځي حمله تر سره کړه؟

دفاع هغه مهال معنا لري چې تجاوز شوی وي، حال دا چې د صهيونيستانو دغه اقدام په خپله يو ښکاره يرغل دی او د دفاع هېڅ دليل نه لري.

وروسته بيا له لبنان او حزب الله غوښتنه کوي چې د دغو بريدونو پر وړاندې زيات حساسيت ونه ښيي، ځکه د ټرامپ په وينا د اسرائيلو بريد پر بيروت کوم تلفات نه لري او له دې زيات غبرګون مناسب نه دی.

په داسې حال کې چې د حزب الله حساسيت او غبرګون د ځان دفاع ګڼل کېږي، هغه حق چې ډونالډ ټرامپ يې اسرائيلو ته ورکوي، بايد حزب الله ته هم ورکړل شي؛ خو هغه يې د بې ارزښته الفاظو په وسيله بې ضرورته بولي.

په پای کې بايد ووېل شي چې لوېديځوال په سياست او ډيپلوماسۍ کې اخلاقي معيارونو ته هېڅ ارزښت نه ورکوي او تر هغه چې له جدي خنډونو سره مخ نه شي، له جعل، فريب او تزوير مخ نه اړوي. دوی په ډېر لنډ وخت کې يو پر بل پسې متضاد او متناقض دريځونه خپلوي او بيا هم دغه کار د خپلې هوښيارۍ او سياسي ذکاوت نښه ګڼي.

بس په همدې کې يې بايللې هم ده.

د ډيجيټلي اقتصاد پراختيا؛ د شتمنۍ نوې بڼه

عبدالباسط

د بشري تاريخ اقتصادي بدلونونه تل د توليد د وسايلو، د شتمنۍ د سرچينو او د سوداګرۍ د بڼو له بدلونونو سره مل پاتې شوي دي. يوه دوره د کرنې دوره وه چې ځمکه د شتمنۍ تر ټولو مهمه سرچينه ګڼل کېده، وروسته صنعتي انقلاب د فابريکو، ماشينونو او توليدي ظرفيتونو ارزښت لوړ کړ او د ملتونو اقتصادي ځواک يې له صنعتي وړتياوو سره وتاړه. د يويشتمې پېړۍ په چټک بدلېدونکې نړۍ کې يو نوی اقتصادي واقعيت راڅرګند شوی دی؛ داسې واقعيت چې پکې معلومات، ډيجيټلي شبکې، معلوماتي ټکنالوژي او فکري توليد د شتمنۍ د رامنځته کولو نوې سرچينې ګرځېدلې دي. همدا بدلون د ډيجيټلي اقتصاد د پراختيا بحث د معاصر اقتصاد له مهمو موضوعاتو څخه ګرځولی دی.

ډيجيټلي اقتصاد په ساده ژبه هغه اقتصادي فعاليتونه رانغاړي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ، انټرنېټ، ډيجيټلي شبکو او برېښنايي خدماتو له لارې رامنځته کېږي. په دې اقتصاد کې فزيکي واټن خپل پخوانی اهميت له لاسه ورکوي او معلومات د اقتصادي فعاليتونو مهمه سرچينه ګرځي. پخوا به سوداګري تر ډېره د بازارونو، دوکانونو او فزيکي حضور پر بنسټ ولاړه وه؛ خو نن ورځ ميليونونه ډالر راکړه ورکړه د څو ثانيو په موده کې د ډيجيټلي سيستمونو له لارې ترسره کېږي. همدا بدلون د اقتصاد ماهيت ته نوې بڼه ورکوي او د شتمنۍ د توليد پخوانۍ تعريفونه له نوې ازموينې سره مخ کوي.

د ډيجيټلي اقتصاد تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې د توليد او شتمنۍ د رامنځته کولو لپاره د پخوا په څېر سترو فزيکي امکاناتو ته اړتيا نه لري. په صنعتي اقتصاد کې لويې فابريکې، پراخې ځمکې او سترې پانګونې د بريا مهم عوامل وو؛ خو په ډيجيټلي اقتصاد کې يو نوښتګر فکر، يو اغېزمن پروګرام، يوه بريالۍ انلاين سوداګري او يا هم يو تخنيکي خدمت کولای شي د پراخ اقتصادي ارزښت سرچينه شي. دا حقيقت د دې سبب شوی چې د بشري فکر او نوښت ارزښت تر بل هر وخت زيات شي.

د معلوماتو ارزښت د ډيجيټلي اقتصاد له مهمو ځانګړتياوو څخه دی. په معاصر اقتصاد کې معلومات د شتمنۍ نوې سرچينه ګرځېدلې ده. هغه شرکتونه چې د معلوماتو راټولولو، تحليل او اغېزمنې کارونې وړتيا لري، د نړيوال اقتصاد په مهمو لوبغاړو بدل شوي دي. د نړۍ ځينې ستر اقتصادي بنسټونه د نفتو، سرو زرو يا فابريکو له امله نه دي پياوړي شوي، بلکې د معلوماتو، سافټويرونو او ډيجيټلي خدماتو له لارې يې خپل اقتصادي نفوذ پراخ کړی دی. دا بدلون ښيي چې د شتمنۍ د توليد مفهوم له فزيکي سرچينو څخه د معلوماتو او پوهې پر لور حرکت کوي.

د ډيجيټلي اقتصاد پراختيا د کار بازار هم بدل کړی دی. پخوا به د کار فرصتونه تر ډېره له جغرافيوي موقعيت سره تړلي وو؛ خو اوس يو ځوان کولای شي له خپل کور څخه د نړۍ بلې برخې ته خدمات وړاندې کړي. فريلانس فعاليتونه، انلاين سوداګري، ډيجيټلي بازارموندنه، سافټوير جوړونه او معلوماتي خدمتونه د کار نوې بڼې رامنځته کړې دي. همدا بدلون د دې سبب شوی چې د مهارتونو اهميت د فزيکي حضور په پرتله ډېر شي. هغه څوک چې تخنيکي وړتيا، ژبنۍ پوهه او ډيجيټلي مهارتونه لري، د نړيوال بازار له فرصتونو څخه ګټه اخيستلای شي.

د کوچنيو کاروبارونو لپاره هم ډيجيټلي اقتصاد پراخ فرصتونه رامنځته کړي دي. په پخواني اقتصادي چاپېريال کې يو سوداګر د بازار، دفتر او پراخو امکاناتو اړتيا لرله؛ خو نن ورځ يو کوچنی کاروبار کولای شي د انټرنېټ له لارې زرګونو او حتی ميليونونو مشتريانو ته ورسېږي. دا بدلون د سيالۍ چاپېريال پراخ کړی او د اقتصادي فعاليتونو لپاره يې نوې دروازې پرانېستې دي. له همدې امله ډيجيټلي اقتصاد د لويو شرکتونو ترڅنګ د کوچنيو نوښتګرو فعاليتونو لپاره هم مناسب فرصتونه برابروي.

د مالي خدماتو ډيجيټلي کېدل هم د دې بدلون مهمه برخه ده. برېښنايي تاديات، انلاين بانکداري، ډيجيټلي والټونه او نور مالي خدمات د راکړې ورکړې سرعت لوړوي او اقتصادي فعاليتونه اسانه کوي. کله چې مالي خدمات چټک، شفاف او د لاسرسي وړ وي، سوداګري هم وده کوي او اقتصادي تعاملات پراخېږي. همدا علت دی چې ډېری هېوادونه د خپلو مالي نظامونو د عصري کولو لپاره پراخې پانګونې کوي.

سره له دې چې ډيجيټلي اقتصاد پراخ فرصتونه لري، ځينې مهمې ننګونې هم ورسره مل دي ...

۷مخ

د انرژۍ راتلونکی؛ نړۍ د کومو سرچینو پر لور روانه ده؟

احسان الله احرار

د بشري تمدن د پرمختګ تاریخ تر ډېره د انرژۍ د سرچینو له تاریخ سره تړاو لري. هر ځل چې انسان د انرژۍ نوې سرچینه موندلې یا یې د شته سرچینو د کارونې اغېزمنه لاره پیدا کړې، د اقتصادي، صنعتي او ټولنیزو بدلونونو نوې مرحله پیل شوې ده. د لرګیو له سوځولو نیولې د ډبرو سکرو تر پراخ استعمال، د نفتو او ګازو تر واکمنۍ او بیا د برېښنا او پرمختللو ټکنالوژیو تر عصر پورې، انرژۍ د بشري ژوند مسیر بدل کړی دی. نن ورځ نړۍ د داسې بدلونونو په درشل کې ولاړه ده چې د انرژۍ د تولید، مصرف او مدیریت بڼه له پخوا سره توپیر پیدا کوي. همدا بدلون دا پوښتنه راولاړوي چې د انرژۍ راتلونکی به څه ډول وي او نړۍ د کومو سرچینو پر لور روانه ده؟

په تېرو دوو پېړیو کې نفت او طبیعي ګاز د نړیوال اقتصاد مهم محرکات وو. د صنعتونو حرکت، د ټرانسپورټ پراختیا، د نړیوالې سوداګرۍ چټکتیا او د اقتصادي ودې ډېره برخه د همدې سرچینو پر مټ ترسره شوې ده. د نړۍ د معاصر اقتصاد لویه برخه لا هم د فوسیلي سون توکو پر کارونې ولاړه ده. د نړۍ ستر اقتصادي قدرتونه، صنعتي هېوادونه او تولیدي مرکزونه د انرژۍ د همدې سرچینو له لارې خپل فعالیتونه پر مخ وړي. خو په وروستیو لسیزو کې څو مهم عوامل راڅرګند شوي چې د انرژۍ د راتلونکي په اړه نوې پوښتنې راپورته کوي.

د نفوسو زیاتوالی د انرژۍ پر اړتیا مستقیم اغېز لري. هر کال د نړۍ نفوس زیاتېږي، ښارونه پراخېږي، صنعتونه وده کوي او د انرژۍ غوښتنه لوړېږي. دا حالت د دې اړتیا رامنځته کوي چې د انرژۍ نوې سرچینې وموندل شي او شته سرچینې په اغېزمن ډول وکارول شي. که د انرژۍ تولید د غوښتنې له زیاتوالي سره برابر پرمختګ ونه کړي، د اقتصادي ودې بهیر به له ستونزو سره مخ شي. له همدې امله د انرژۍ راتلونکی یوازې د چاپېریال موضوع نه ده، بلکې د اقتصاد، صنعت او نړیوال ثبات له مسئلې سره هم تړاو لري.

د اقلیم بدلون د انرژۍ په اړه د نړیوالو بحثونو یو مهم عامل ګرځېدلی دی. د فوسیلي سون توکو پراخه کارونه د کاربن د اخراج کچه لوړه کړې او د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې یې د اقلیمي بدلونونو په اړه اندېښنې زیاتې کړې دي. د همدې اندېښنو له امله ډېری هېوادونه هڅه کوي چې د انرژۍ د تولید لپاره داسې سرچینو ته مخه کړي چې د چاپېریال پر وضعیت لږ منفي اغېز ولري. د لمریزې انرژۍ، بادي برېښنا، اوبو او نورو نوېدونکو سرچینو پراختیا د همدې بدلون څرګندونه کوي.

لمریزه انرژي د راتلونکي له مهمو سرچینو څخه ده. لمر هره ورځ د ځمکې پر مخ د انرژۍ ستره اندازه خپروي او د ټکنالوژۍ پرمختګ دا امکان رامنځته کړی چې د دې انرژۍ لویه برخه د برېښنا په تولید کې وکارول شي. د لمریزو تختو د بیې راټیټېدل او د تولید د ظرفیت لوړېدل د دې سبب شوي چې ډېری هېوادونه په دې برخه کې پانګونه زیاته کړي. په هغو سیمو کې چې د لمر وړانګې ډېرې وي، لمریزه انرژي د اقتصادي ودې لپاره پراخ فرصتونه رامنځته کولای شي.

بادي انرژي هم د نړیوالې انرژۍ په نقشه کې مهم ځای خپلوي. د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې ستر بادي فارمونه جوړ شوي او هر کال د برېښنا د تولید ظرفیت لوړېږي. که څه هم د باد شدت تل یو شان نه وي، خو د ټکنالوژۍ پرمختګ د دې سرچینې اغېزمنتیا لوړه کړې ده. د نړۍ ځینې هېوادونه د خپلې اړتیا د پام وړ برخه د بادي برېښنا له لارې پوره کوي.

د اوبو انرژي لا هم د برېښنا د تولید له مهمو سرچینو څخه ده. بندونه او د اوبو لویې پروژې د انرژۍ تر څنګ د کرنې، اوبو مدیریت او اقتصادي ودې لپاره هم ارزښت لري. هغه هېوادونه چې د اوبو پراخې سرچینې لري، د انرژۍ په برخه کې د پام وړ ظرفیتونه هم لري. له همدې امله د اوبو مدیریت د انرژۍ له راتلونکي سره نږدې اړیکه لري.

اتومي انرژي د راتلونکي د انرژۍ په اړه له تر ټولو بحث پاروونکو موضوعاتو څخه ده. د دې سرچینې ملاتړي استدلال کوي چې اتومي انرژي د برېښنا د تولید لپاره لوړ ظرفیت لري او د کاربن د اخراج کچه یې محدوده ده. له بلې خوا د خوندیتوب، اټومي کثافاتو او احتمالي خطرونو په اړه اندېښنې هم موجودې دي. سره له دې، ګڼ هېوادونه لا هم اتومي انرژي د خپل اوږدمهاله انرژۍ د ستراتیژۍ یوه مهمه برخه ګڼي.

د انرژۍ د راتلونکي په اړه یو بل مهم بدلون د برېښنایي وسایطو پراختیا ده. د نړۍ د موټرو صنعت په چټکۍ سره د برېښنایي موټرو پر لور حرکت کوي. دا بدلون د نفتو د مصرف په کچه اغېز کوي او د برېښنا پر اهمیت نور هم زیاتوي. هر څومره چې برېښنایي وسایط پراخېږي، هماغومره به د برېښنا د تولید او ذخیرې اړتیا هم لوړېږي. همدا علت دی چې د بېټرۍ ټکنالوژي د انرژۍ د راتلونکي له مهمو برخو څخه ګرځېدلې ده.

د هایدروجن انرژي هم د راتلونکي د احتمالي سرچینو په توګه مطرح ده. څېړونکي او صنعتي بنسټونه هڅه کوي داسې ټکنالوژۍ رامنځته کړي چې هایدروجن د انرژۍ د پاکې سرچینې په توګه وکارول شي. که په دې برخه کې تخنیکي او اقتصادي خنډونه کم شي، هایدروجن کولای شي د انرژۍ په نړیوال بازار کې مهم رول ولوبوي.

د انرژۍ راتلونکی یوازې د سرچینو د بدلون مسئله نه ده، بلکې د ټکنالوژۍ د پرمختګ موضوع هم ده. د انرژۍ ذخیره، هوښیارې شبکې، مصنوعي ځیرکتیا او پرمختللي مدیریت سیستمونه د دې سبب کېږي چې موجودې سرچینې په اغېزمن ډول وکارول شي. په راتلونکو لسیزو کې به هغه هېوادونه غوره موقعیت ولري چې د انرژۍ د تولید تر څنګ د انرژۍ د مدیریت او ذخیرې په برخه کې هم پرمختګ وکړي. افغانستان د انرژۍ په برخه کې د پام وړ فرصتونه لري. د اوبو سرچینې، د لمر پراخ ظرفیت، د باد مناسب شرایط او ځینې طبیعي زېرمې د دې امکان برابروي چې هېواد د انرژۍ په برخه کې مهم پرمختګونه وکړي. د انرژۍ د تولید پراختیا نه یوازې د برېښنا اړتیاوې پوره کولای شي، ورسره د صنعت، کرنې او اقتصادي فعالیتونو لپاره هم مناسب چاپېریال رامنځته کوي. هر هغه ګام چې د انرژۍ د خودکفایۍ پر لور پورته کېږي، د اقتصادي ثبات او پراختیا لپاره هم مثبت اغېز لري.

د افغانستان اسلامي امارت د انرژۍ د پراختیا او د برېښنا د تولید د زیاتوالي لپاره د بېلابېلو پروژو د عملي کېدو هڅې کوي. د اوبو، لمریزې انرژۍ او نورو ...

۷مخ

ځوانه! اکابرینو ته غوږ شه، چې څه درته وایي

مولوي خالد تسل

ځوان په اصطلاح د هرې ټولنې د ملا د تیر حیثیت لري او په عمر کې د ځوانۍ دوره نایابه وي.

د هر تن په وجود کې دننه زړه د وجود د باچا حیثیت لري د ځوان د زړه حیثیت څنګه دی؟

په اړه یې امیرالمومنین سیدنا علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه فرمایي:

د ځوان زړه د داسې خالي ځمکې په رقم دی، چې هر ډول تخم (دانې) پکې وپاشل شي، هغه قبلوي. (نهج البلاغة ۳/ ۳۹).

معلومه شوه چې د ځوانۍ د دورې پر مهال زړه فارغه وي او وروسته په هر رقم مصروفیت سره هغه اشغال کېږي او بیا د ژوند تر پایه پورې هغه فکر د زړه ترجمان پاتې کېږي.

پام! چې زړونه په عبثیاتو باندې اشغال نه کړئ.

ځوان ته سعید نوري رحمة الله علیه لارښوونه کوي او فرمایي:

د ځوانۍ احساسات که د عقل او د دیني احکامو په واسطه مهار نه شي، نو انسان د حیواني شهوتونو په بند خونه کې بندي کوي. (رسائل النور۹۲)

د ځوانۍ دماغ ډېر قوي وي او په همدغه موده کې چې هر څه د هر چا له لورې دماغ ته ننوتل، همغه د ځوان په ژوند کې د بدلون اسباب را زرغونوي.

علم د ځوان د فکري تنویر اساسي منبع ده او په نننۍ نړۍ کې د حقیقي علم لټون یو مهم کار ګرځیدلی.

شیخ محمد بن صالح العثیمین رحمة الله علیه فرمایي:

پر ځوانانو لازمه ده، چې خپل علم له ربیني، رباني علماوؤ څخه تر لاسه کړي تر څو په دین کې د افراط او تفریط ښکار نه شي. (الصحوة الاسلامية ۶۵)

د ځوانۍ دوره د خواهشاتو سره د مبارزې ده او په هم دغه دوره کې د خواهشاتو د کنټرول سره ـ سره عبادت د سرو زرو په مثال دی.

امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي:

د ځوانۍ عبادت تر بوډاتوب تر عبادت غوره دی، ځکه چې په ځوانۍ کې د نفساني خواهشاتو سره مبارزه کول، تر ټولو لوی جهاد دی. (احیاء علوم الدین۳/ ۷۴)

همدا رقم باید ځوان فقط ځان د دنیا مجنون جوړ نه کړي، بلکه د دنیایي مصروفیتونو تر څنګ، د آخرت سفر ته هم پوره کار باید وکړي.

امام حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي: ای ځوانانو! په اخرت پسې وګرځئ، ځکه موږ ډېر ځله لیدلي، چې خلکو د اخرت په غوښتلو سره دنیا هم موندلې؛ خو هیڅچا هم د دنیا په غوښتلو سره آخرت نه دی موندلی. (حلیة الاولیاء و طبقات الاصفیاء، ابو نعیم الاصفهاني. ۱/ ۶۲)

د ځوانۍ دوره داسې تېرېږي، چې انسان هېڅ پرې نه پوهېږي.

امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه فرمایي: ما ځواني د هغه شي په رقم ولیدله چې زما په لستوني کې وؤ او کښته وغورځېد (یعني د ځوانۍ دوره په ډېره چټکۍ سره تېرېږي).

(مناقب امام احمد بن حنبل ۱/ ۳۶۲)

د ټولنې بې لارې قشر د بیکارۍ محصول وي، په خاصه توګه ځوانان.

امام ابن قیم جوزي رحمة الله علیه فرمایي:

د ځوانانو د بې لارۍ اساسي ریښه د هغوی بېکاري ده، ځکه چې بېکاري د نفس (هوس) لپاره د ابلیس تر ټولو لوی سورلۍ او وسیله ده.

(طریق الهجرتین و باب السعادتین ۱/ ۱۸۴)

ځوان ته د ځوانۍ په مهال د لومړیتوبونو په هکله امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمایي:

په ځوانۍ کې لومړی علم حاصل کړه، بیا مال وګټه او وروسته واده وکړه، ځکه که دا ټول په یو ځل وغواړې؛ نو علم به دې ضائع شي. (الاشباه و النظائر ۱/ ۳۸۲)

لقمان حکیم رحمه الله خپل ځوان زوی ته په خطاب کې د نصیحت په توګه فرمایي:

زویه! د علماوؤ په مجلس کې کښېنه او له هغوی سره څنګون په څنګون شه. (موطا امام مالک، حدیث شمیره: ۱۸۸۶)

ځوانان چې په اوسنۍ نړۍ کې د غربي او شرقي قومونو ړوند تقلید کوي، د خطر په اړه یې علامه ابو الحسن علي الندوي رحمه الله فرمایلي دي:

د نورو قومونو ړوند تقلید د اسلامي شخصیت لپاره وژونکی زهر دی. (الصراع بین الفکرة الاسلامیة و الفکرة الغربیة ۵۸).

په ځوانۍ کې د ملګرو انتخاب په حقیقت کې د خپل راتلونکي ژوند لپاره لارښود ټاکل دي.

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمایي:

اې ځوانانو!

د بدو (بیکاره) ملګرو له ناستې څخه ځانونه وساتئ، ځکه چې همدا بد ملګري مو د دوزخ د اور کندي ته ور وغورځوي. (الفتح البرهاني و الفیض الرحماني، ۱۴ مجلس، ۴۲ مخ)

د دین روح

میا نور آغا حقاني

دوه څلوېښتمه برخه

تهذیب الأخلاق: طهارت (پاکوالی) هر ذي شعور او د عقل خاوند پاکوالی خوښوي، د هر سالم فطرت څښتن زړه پاکوالي ته میلان کوي، تر دې چې حیوانات هم کوښښ کوي چې پاک ځای کې ځملي، له چټل ځای څخه ځان ساتي، ځینې خو مخکې له دې چې په یو ځای کې ځملي مخکې تر مخکې یې په لکۍ جارو کوي، خلاصه: د انسانانو غوڅ اکثریت په دې متفق دي چې پاکوالی ښه اخلاق دي او نا پاکي قبیح عمل دی.

کله چې حیوان او انسان په نقصانونو او تاریکیو کې ډوب خو بیا هم پاکیزه ګي غواړي، الله عزوجل چې له ټولو نقصاناتو څخه پاک او منزه دی او د هېڅ بدرنګي نسبت نه ورته کېږي. تر هر چا زیات طهارت خوښوي، له دې امله باید انسان له خپل رب سره د مناجات په حالت کې تر ټولو حالاتو څخه زیات د طهارت په حالت کې وي.

کله چې پاکوالی ذکر شي عام ذهن ظاهري پاکوالي ته تګ کوي، د ځای او بدن پاکوالي ترې مراد کوي، اګر که دا پاکوالی مهم دی؛ خو له دې زیات مهم بیا د عقیدې، فکر او اخلاقو پاکوالی دی، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱: د عقیدې پاکوالی: انسان باید داسې عقیده ولري چې په حقایقو بنا وي، له اوهامو، خیالاتو، اټکل او درواغو څخه نه وي جوړه شوي. انسان باید د عقیدې باره کې ډېر دقیق وي بالخصوص د معبود او هغه ذات په هکله چې دی یې ما فوق الأسباب د نفعې او نقصان مالک، علیم، اوریدونکی او لیدونکی ګڼي، د معبود د وجود او صفاتو په هکله باید د علم له اسبابو (حواس، عقل، ریښتیني خبر) څخه د یو سبب له امله علم ولري، داسې نه چې د توهماتو ښکار شي، مخلوق او د کائناتو له جملې څخه یو کمزوری شی معبود وګڼي، یا داسې نه چې له هر شي د توهم له امله متأثر شي اګر که هغه تر ده ډېر ضعیف او کمزوری هم وي د معبود په حیث ومني، همدا راز باید د معبود صفات وپېژني او هغه ته ټول هغه څه خالص وګرځوي چې د هغه یوازېنی حق وي، په اړه یې باید له هر قسم غلطو افکارو او ګمانونو څخه عقیده پاکه کړي، همدا راز باید د هر چا په هکله د هغه مناسب فکر او نظر ولري، له بد ګمانیو څخه ځان وژغوري.

الحاصل: انسان باید له کفریاتو، شرکیاتو، خرافاتو او وهمیاتو څخه خپله عقیده پاکه ستره کړي، له خالق او معبود سره باید پوره د خلوص ربط او تعلق ولري، د هغه د ارشاداتو مطابق باید زندګي تېره کړي او همېشه یې د رضا په طلب کې وي.

۲: فکر او نظر: انسان باید همېشه د حقایقو په طلب کې وي، د هېڅ شي او کس باره کې باید د شکونو او ګمانونو ښکار نه شي، نه هم باید د کوم شي او کس په هکله بې له قرائنو څخه غلط او منفي فکر وکړي، همدا رنګه باید همېشه کوښښ وکړي چې له غلطو او فاحشو تصوراتو څخه ځان وژغوري. شیطان کوښښ کوي چې انسان ته د عقیدو او اعمالو په هکله غلطې او فاحشې وسوسې واچوي؛ خو انسان به کوښښ کوي چې دغه وسوسې په عقلي او منطقي توګه سره دفع کړي. همدا راز له الله تعالی څخه یې په دفع کولو کې مرسته وغواړي، بالخصوص موعذتین سورتونه په داسې حالت کې زیات تلاوت کړي، ځکه که دغه وسوسې په خپل وخت دفع نه شي او یا یې د دفعې کوښښ ونه کړی شي، الله تعالی دې نه کړي بیا په زړه کې ځای نیسي او ورو ورو یقین او عزم ته رسېږي، چې د لویو بدبختیو لامل ګرځي او انسان د «خسر الدنیا و الآخره» مصداق جوړوي. معاذ الله!

خلاصه: غلط، فاحش او منفي فکر او تصور، بې له دلیل او قرینې ګمان، شیطاني وسوسې د فکر او نظر چټلي او ناپاکي ده؛ خو د دې برعکس، مثبت او منطقي فکر فکري سپېڅلتیا ده.

۳: اخلاق انسان باید د اُنس او محبت بېلګه وي، ورین تندی او د خوږې ژبې مالک وي، بې ځایه تند او تریخ نه وي، نه هم باید بې ځایه ستغه او سپکه لهجه وکاروي، بلکې د محبت او احترام په چاپیریال کې له هم نوعو سره مخ شي، تر څو نه یوازې د هغوی زړونه خپل کړي، بلکې خپله هم همېشه د ارام او سکون په فضا کې زندګی تېره کړي، که داسې ونه کړي، بیا هر عمل عکس العمل لري، چې د خلکو له ورته عکس العمل سره به مخ شي او ټوله زندګي به له مصائبو او کړاونو څخه ډکه کړي، د ارام او سکون مخ به ونه ویني، په دردونو او فکري فشارونو کې به غمزده او لالهانده پروت وي، مطلب دا: چې څه کرې هغه به رېبي، که د ښو اخلاقو کر دې وکړ له خلکو څخه به هم د ښو اخلاقو ثمره تر لاسه کړې او که د بدو اخلاقو کر دې وکړ، همېشه به د ترخو مېوو مزه څکې.

نور بیا...

هنر نویسنده گی را به ملعبه نگیریم

استوار

هر بخشی از هنر و کمال دارای ویژه گی ها، موازین و قوانینی است که باید در نظر گرفته شود.

برعکس نکاتی اند که نویسنده از آن دوری جسته و ابا ورزد.

هرچند این چیستی و چگونگی ها بحثی است بزرگ و طولانی که از حوصله مندی این دلنبشته به دور است، با صرف نظر از جزییات و تمرکز به نکات اساسی آن کوتاه و فشرده نگرشی میداشته باشیم.

آنچه که باید از سوی نویسنده در نوشتار به گونه جدی مراعات گردد، عفت کلام در نوشتار اساسی ترین مورد است که باید جدی در نظر گرفته شود، توهین، تهدید و نادیده گرفتن کرامت انسانی از سوی نویسنده وصدمه زدن به هویت و شخصیت کسی در حقیقت امر از ارزش و ارجحیت نبشته میکاهد.

مورد دیگر اینکه، استفاده غیر مجاز از نوشته و داشته های معنوی دیگران نیز کاریست ناپسند مرتکبین چنین عمل را سارقین ادبی عنوان می نمایند.

آنچه که در قواعد نوشتار و ادب به غرض پژوهش و تحقیق موجود است، بحثی است جدا غرض ما از این جستار دزدان چراغ بدست است که با دیده درآیی تمام داشته و نوشته های دیگران را غصب کرده و در پای آن نام خود را نوشته، اثر دیگران به نحوی ملکیت فکری خویش می پندارد. چه از ورای سایت های باشد. چه از کتاب و چه از نشریات کتبی رسانه ای و غیر رسانه ای.

در مورد اینکه کدام مولفه ها در قسمت قوام و پخته گی یک نبشته نقش کلیدی دارد، نکته نظرهاییست که باید از سوی نویسنده جدی گرفته شود، به گونه مثال قواعد نوشتاری از حیث املا و انشاء، نشانه گزاری و ساختار بدنه نوشتار که متشکل از سه قسمت، مقدمه، اصل موضوع و جمع بندی یا طرح راه برون رفت عدم مراعات هر نکته ای که در فوق ذکر شد در حقیقت امر به معنی معیوب بودن نوشتار است بایسته است، باهنر نوشتار بازی وملعبه صورت نگیرد.

ولې په نړیواله کچه یو شمېر ژبې له لوړو امتیازاتو څخه برخمنې دي؟

حیات الله حلیم

هېڅ کوم قوم له ژبې پرته په دنیا کې شتون نلري، هر وګړی چې د ځمکې په مخ ښوري، ضرور به په یوه ژبه خبرې کوي، د ژبپوهانو د اټکل له مخې دا مهال په نړۍ کې تر ۷۰۰۰ ژوندۍ ژبې موجودې دي؛ خو دا شمېر ثابت نه دی، ځکه ځینو لرو پرتو هېوادونو په جزیرو کې ۱۰۰ داسې ژبې هم سروې شوې چې تراوسه یې پورتني شمېرې ته لاره نه ده موندلې؛ خو دا چې په پورتنیو اوو زرو ژبو ژبو کې کومو ژبو نړیوال اهمیت خپل کړی، هغه معلومات او دلایل دي چې له درونو لوستلونکو سره یې شریکول بې ګټې نه دي.

دا خو څرګنده ده چې یوه ژبه به هغه وخت تر نورو ژبو زیات اهمیت ومومي چې ګړېدونکي یې د معنوي ارزښتونو درلودونکي یا په منطق او فلسفه کې برلاسي ولري، یا یې هم د تکنالوژۍ پرمټ دومره پرمختګ کړی وي، چې نور قومونه ورته په مادي لحاظ احتیاج وي.

کله چې په یوه ملک کې معنویات، فلسفه یا تکنالوژي اوج ته رسېدلې وي، طبعي ده چې ژبه به یې هم نړۍ د مطرح ژبو په قطار کې له اهمیت څخه برخمنه وي.

د نړۍ په یادو او مطرح ژبو کې عربي، انګلیسي او یوناني درې هغه ژبې شاملې دي چې نړیوال شهرت یې موندلی، دا چې ولې یې په نړیواله کچه اهمیت خپل کړی؟ د متن له لوستلو وروسته به ثابته شي. که څه هم ځینې پوهان په دې اند دي چې د یوه قوم ژبه هغه مهال پرمختګ کولای شي چې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز توان یې لوړ او پیاوړی وي؛ خو دا د اوسنیو تحلیل ګرانو خبره ده، ځکه پورتنیو دریو ژبو له زرګونو کلونو د مخه اهمیت او ارزښت موندلی و. همدا اوس هم په نړۍ کې نورې لویې ژبې لکه چینایي، روسیې، جرمني، فرانسوي، اسپنیش (اسپانیا) او هندي موجودې دي او د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز توان په مټ یې لوړ انکشاف هم موندلی؛ خو ژبه یې په نړیواله کچه د پورته دریو ژبو په پرتله له اهمیت څخه نه ده برخمنه. عربي د نړۍ د اوسنیو ژبو تر منځ هغه غوره ژبه ده، چې معنوي ارزښتونه یا په بل عبارت د اسلام سپیڅلی دین په دې ژبه بشر ته ابلاغ شوي، چې له همدې وجې دا ژبه د نړۍ تر ټولو ژبو غوره او هغه مهمه او سرداره ژبه ګڼل شوې، چې بله ژبه یې په اهمیت پسې نه رسېږي. تر ټولو ستره او معجزه آسا ځانګړتیا یې دا هم ده چې د نورو ژبو بېسواده ګړېدونکي یې د [زبر زېر او پېښ] په مرسته هم لوستلای شي. په دې ژبه لوړ اسلامي ارزښتونه، دنیوي او اخروي ښېګڼې، د فردي او ټولنیز ژوند د سمون لارې چارې، د الهي ارشاداتو په رڼا کې بشر ته ورپه ګوته شوي. عربي ژبه د لیکوالانو او په ځانګړې توګه د مذهبي علماوو، فقهاوو او محدیثونو د رېښتنیو خدمتونو له امله دومره پرمخ تللې چې پخوا پورې ګاونډۍ ژبې یې هم په ادبي او فرهنګي لحاظ تر لوړه برېده له دې ژبې غني شوې دي. که د انګلیسي ژبې د پرمختګ اهمیت او محبوبیت لاملونه را وټلل شي، نو معلومه به شي چې انګلیسي ژبه د مادیاتو ترڅنګ یې د تکنالوجیک د پرمختګ ژبه ثابته شوې ده او یادې ژبې د همدې توان پرمټ نړیوال قوت او اهمیت موندلی دی. د مثال په توګه دوی چې د دې ژبې ګړېدونکي کله چې د یوه شي وجود ته اړتیا ووینې سمدلاسه پرې کارپیل کوي او کله یې چې اختراع بریالی شي نو بیا پرخپل زړه نوم ورته ټاکي چې دغه نوم په دې تولید شوې امتعه هغه هېوادونوته هم ځي چې بیله ژبه لري؛ خو جالبه دا ده چې تولید شوې امتعه کله چې نورو ملکونوته ولاړه شي، د مخترع ملک اېښودل شوي نوم ورته تلفظ کېږي لکه بایسکل، راډیو، موبایل، موټر، ماشین اوداسې نور.....

زیاتره دا نومونه په انګلیسي ژبه دي. همدا وجه ده چې انګلیسي د دنیوي اسباب او وسایلو د جوړولو له مخې غني شوی ژبه ده؛ خو یو شمېرهېوادونو لکه ایران بیا هڅه کوي چې په وارد شویو مالونو لکه بایسکل ته دوچرخه او موټرته اتومبیل په خپله ژبه نومونه وضع کړي؛ خو زموږ په هېواد کې دا ټول وارد شوي توکي په امانتداري د معمارهېواد په نوم تلفظ کېږي، نو ځکه دا څېزونه د یوې ژبې په پرمختګ کې اساسي رول لري. یوناني ژبه بیا د یونانیانود فلسفې له مخې شهرت او اوج ته رسېدلې ده، ځکه دې ژبې په سلګونو فیلسوفان درلودل چې مشهور یې افلاطون، ارسطو او سقراط ول، چې د لودیځې فلسفې ډېری اوسني افکار د همدې دریو فیلسوفانو له نظریاتو اغېزمن شوي دي. یوناني ژبې او فرهنګ نه یوازې په یونان کې، بلکې په افغانستان کې هم له اسلام څخه د مخه د یونان باختري په نامه د تمدن نښې نښانې پاته شوې دي.

په یونان کې د ساده ژبې او قناعت د فیلسوف (ډېګنیس) نومېده چې فلسفه یې د نړۍ نورو ژوندیو ژبو ته هم ژباړل شوې ده. د خوشحالۍ او اعتدلال د فلسفې مخکښ بیا ابیکورنومېده چې د ده فلسفې هم زیات پلویان درلودل او د نړۍ مختلفو ژبو ته ژباړل شوي دي.

د اخلاقي فلسفې ستراستاد (سکوراتیس) نومېده چې زیات شاګردان او پلویان یې درلودل او د فلسفې نظریاتو زیات کتابونه یې اروپایي ژبو ته ژباړل شوي دي.

ډموکراتوس د اټومي زراتو د نظریې له لومړنیو مخکښو او مطرح کوونکو فیلسوفانو څخه و ...

۷مخ

پیامد های منفی نوشابه های انرژی زا بر سلامت انسان

محمد یعقوب

در سال‌های اخیر، نوشیدنی‌های گازدار و انرژی‌زا به یکی از پرمصرف‌ترین گزینه‌ها در میان شماری از هموطنان بخصوص جوانان تبدیل شده است. دست‌رسی آسان و افزایش برند های آن در بازار، از دلایلی است که مصرف این محصولات را به بخشی از زندگی روزمره‌ی بسیاری تبدیل کرده است.

در ولایاتی چون کابل، مزار شریف، ننگرهار و سایر شهرهای بزرگ کشور، مصرف نوشابه‌های گازدار و انرژی‌زا به دلیل دسترسی آسان و استفاده روزمره، به ویژه در میان جوانان، به عنوان یک تهدید جدی برای سلامت عمومی مطرح و مورد توجه قرار گرفته است.

برمبنای تحریر ها؛ مصرف مداوم نوشیدنی‌های گازدار به دلیل مقادیر بالای شکر، کافئین و اسید فسفریک تهدیدی جدی برای سلامت، انعکاس داده شده است. این نوشیدنی‌ها خطر چاقی، دیابت ، بیماری‌های قلبی و پوکی استخوان را به شدت افزایش می‌دهند. همچنین برای سلامت دندان‌ها بسیار مخرب بوده و باعث از بین رفتن مینا و پوسیدگی می‌شوند.

مهم ترین خطرات این نوشیدنی‌ها عبارتند از آسیب رساندن به دندان‌ها می باشد. اسید موجود در آن‌ها مستقیماً مینای دندان را تخریب کرده و باعث پوسیدگی و حساسیت دندانی می‌شود. اسید فسفریک موجود در نوشابه ها مانع جذب کلسیم شده و خطر پوکی استخوان به ویژه در زنان را بالا می‌برد. هر قوطی نوشابه گازدار کالوری و قند بسیار بالایی دارد که به سرعت منجر به تجمع چربی و چاقی می‌شود. مصرف مرتب این ها، مقاومت به انسولین را افزایش داده و سلامت قلب را تهدید می‌کند. گاز و شکر زیاد به کبد فشار آورده و می‌تواند زمینه‌ساز کبد چرب باشد. همچنان کافئین بالای این نوشیدنی‌ها به ویژه در انواع انرژی‌زا خواب را مختل کرده و سطح اضطراب را بالا می‌برد.

با افزایش شدت گرما و فعالیت های فزیکی و دماغی رومزه، عده ی کثیری از مردم به ویژه جوانان از محصولات نوشابه های گازدار و انرژی زا ، استفاده بیشتر نموده و کاروبار دکانداران هم از درک فروش آنها رونق بیشتری پیدا کرده است.

ذکریا، یکی از فروشندگان نوشابه‌های گازدار در ساحه پنجصد فامیلی خیرخانه از افزایش فروش و مصرف نوشابه‌های انرژی‌زا به‌ویژه در میان جوانان چنین می گوید: در روزهای گرم تابستان، فروشات ما به صورت چشم‌گیر افزایش یافته است. روزانه بین ۲۰ تا ۳۰ قوطی نوشابه گازدار غیرالکولی به فروش می‌رسد که بیشتر مشتریان آن جوانان، به‌خصوص ورزشکاران هستند. به گفته او، عمده‌ترین بخش درآمد روزانه‌اش از فروش همین نوع نوشابه‌ها تأمین می‌شود.

ذکریا اضافه می کند: در این اواخر مصرف نوشابه‌های انرژی‌زا نسبت به آب و سایر محصولات آشامیدنی بیشتر شده است. در این روزها به‌دلیل گرمی شدید هوا، مردم زیادتر به نوشابه‌های انرژی‌زا روی می‌آورند، تا بتوانند احساس خستگی و گرمازدگی را کاهش دهند. او تأکید دارد که این نوشابه‌ها به‌ویژه در ساعات ظهر و عصر بیشترین تقاضا را دارند.

آرش بارش، مسکونه کابل و یکی از مصرف‌کنندگان می‌گوید: برای بیدارماندن و رفع خستگی گاهی از نوشیدنی‌های گازدار و انرژی زا استفاده می‌کنم. او می‌افزاید: دلیل استفاده‌ی نوشابه های انرژی زا، بیش‌تر برای ازبین‌بردن خواب، رفع خستگی و تقویت تمرکز است که می‌توانیم به پول اندک تهیه کنم و استفاده‌ی انرژی نسبت به میوه‌جات سهل و راحت‌تر است.

با وجود محبوبیت نوشیدنی‌های گازدار و انرژی‌زا، داکتران نسبت به پیامدهای آن بر سلامت وجود به ویژه دهن و دندان هشدار می‌دهند. داکتر دندان بصیر آزاد می گوید: دهن را دریچه‌ای برای سلامت بدن است. داکتر آزاد می افزاید که مصرف نوشیدنی‌های گازدار و انرژی‌زا برای سلامت عمومی بدن خیلی مضر بوده و عواقب ناگواری در قبال خواهد داشت. به گفته داکتر بصیر: نوشیدنی‌های انرژی‌زا و گازدار چهار اثر مخرب عمده بر دندان‌ها دارند. این نوشیدنی‌ها باعث ازبین‌رفتن مینای دندان، پوسیدگی دندان‌ها، افزایش حساسیت به گرمی و سردی و ایجاد لکه روی دندان‌ها می‌شود.

به گفته‌ی این داکتر، پوسیدگی‌های اولیه دندان قابل درمان است، اما مینای دندانی که بر اثر مصرف بیش از حد نوشیدنی‌های گازدار تخریب شود، به طور طبیعی قابل بازسازی نیست.

فرید، یکی از باشندگان کابل می‌گوید: من از نوشیدنی‌های گازدار و انرژی‌زا استفاده نمی‌کنم؛ زیرا از طعم آن‌ها خوشم نمی‌آید و هم‌چنین باعث سوزش معده‌ام می‌شوند. همایون وارث با وجود علاقه‌اش به نوشابه‌های انرژی‌زا، نسبت به اضرار احتمالی استفاده از آن‌ها، آگاهی و مطالعه کافی دارد. او می‌گوید: فکر می‌کنم نوشابه‌های گازدار و انرژی‌زا کاملاً بی‌ضرر نیستند، اما اگر در حد نورمال استفاده شوند، می‌توانند مفید هم باشند. او که به‌صورت منظم ورزش می‌کند، باور دارد مصرف کنترول‌شده این نوشابه‌ها، باعث افزایش نشاط و آمادگی جسمی می شود.

در سال‌های اخیر مصرف نوشیدنی‌های گازدار در کشور، به‌ویژه در میان جوانان و برخی دفاتر و مجالس، به‌طور چشمگیری افزایش یافته است. بسیاری از افراد این محصولات را برای رفع خستگی و افزایش انرژی استفاده می‌کنند، بی‌آن‌که به عواقب جدی آن بر سلامت خود توجه داشته باشند.

حتما شما هم کم‌وبیش شنیده‌اید که نوشابه برای سلامتی بدن اضرار زیادی دارد، اما احتمالا دقیق نمی‌دانید عوارض جانبی نوشابه ها چقدر وحشتناک هستند. نیاز امروزی جامعه که اولویت آن سلامتی عمومی بدن می باشد، ایجاب می نماید تا به‌جای مصرف نوشیدنی‌های انرژی‌زا، باید به منابع طبیعی انرژی مانند میوه‌ها، سبزیجات، چای سبز، قهوه به مقدار خیلی کم و مناسب و نوشیدن آب کافی روی آورد. این گزینه‌ها هم سالم‌تر هستند و هم انرژی لازم برای بدن را به شکل طبیعی تأمین می‌کنند.

گفتی است که در شماری از کشورهای جهان، از جمله کشورهای اروپایی و آسیایی قواعد و محدودیت‌های برای استفاده از نوشیدنی‌های انرژی‌زا برای افراد زیر ۱۸ سال وجود دارد؛ و چی خوشایند تمام خواهد شد تا محدودیت های در میان کودکان و نوجونان کشور ما نیز مدنظر گرفته شود و مراقبت گردد ؛ تا نسل سالم تر با ذکاوت بیشتر برای آینده کشور تقدیم گردد.

افغان اعلانات



د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو عمومي ریاست له ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (تهیه و تدارک ۵۷ قلم ٦۷۷ قلم او ٦۹۵ قلمه پرزه جات) چې د تشخصیه شمیره یې:

GDI/1405/G-01-02-03/NCB

ده ګډون وکړئ. او د شرطپاڼې سافټ په فلش یا سي ډي ډیسک کې په وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته یې ده ملالۍ واټ، ملالۍ زیږنتون ترڅنګ شهر آرا کابل- افغانستان څخه ترلاسه کړئ.

له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانون او کړنلارې له مخې خپل افرونه په ټرل شوې بڼه چې تاریخ او توانایي په آفر کې ذکر شوي دي تسلیم کړئ، او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ ندي.

اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به منظور تطبیق بهتر ماده سی وپنجم قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده می شود، {ریاست شفاخانه استقلال} در نظر دارد، قرارداد {تهیه و تدارک دو نوع تیل و گاز مایع محروقاتی ضرورت سال مالی ۱٤۰۵} خویش را تحت شماره داوطلبی

MOPH/EH/1405/NCB/G04

به {شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان- دارنده جواز نمبر ۷۹۹۵۵ با داشتن محل اصلی تجارتی[سر کوتل خیرخانه - ناحیه ۱۷- مرکزکابل} به قیمت مجموعی مبلغ {۱۰٦۳۹۰۰۰ ده میلیون و ششصد و سی و نو هزار افغانی} ، اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی سه روز کاری طور کتبی توأم با دلایل آن به {ریاست شفاخانه استقلال - واقع سه راهی علاوالدین - ناحیه ششم- کابل- افغانستان} ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

د ترون ورکړې د پریکړې خبرتیا!

استقلال روغتون ریاست په پام کې لري چې د دې روغتون اړوند د ۱٤۰۵ مالي کال لپاره د دوه دوله تیل او محروقاتی ګاز د تدارک او چمتو کولو ترون چې شمیره یې عبارت ده

MOPH/EH/1405/NCB/G04

د افغانستان نفت او ګاز امارتی شرکت، چې د کابل ولایت ،۱۷ ناحیې، سر کوتل سیمه کې موقعیت لري او ۷۹۹۵۵ جواز شمیرې لرونکی دی د)۱۰٦۳۹۰۰۰(لس میلیون او شپږ سوه نه دیرش زره افغانی} مجموعي قیمت سره ورکړي.

حقیقي او حکمي کسان چې په دې برخه کې هر ډول نیوکې (اعتراضونه) لري، کولای شي خپله نیوکه ددې خبرتیا د خپریدو له نېټې څخه تر دری کاری ورځو پورې په لیکلي بڼه د هغو له دلایلو سره یو ځای د استقلال روغتون ریاست ته چې د کابل ولایت شپږم ناحیه سه راهی علاوالدین سیمه کی موقعیت لري د عقودو قانون سره سم وړاندې کړي.

دا خبرتیا د ترون عقد په مانا نه ده او د پورته یاد شوې مودې او ورپسې قانوني پړاونو تر بشپړیدو پورې به ترون نه لاسلیک کیږي.

اطلاعیه اجاره دهی

مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه، ریاست اجاره دهی، ریاست عمومی اراضی موازی سه قطعه زمین ۵۰ جریبه که مجموعا ۱۵۰ جریب زمین واقع ساحه بوریا باف ایرم جر ولسوالی ینگی قلعه ولایت تخار تثبیت نموده و آماده اجاره دهی به طور کوتاه المدت به منظور کشتمندی با حد اقل اجاره هر پنجاه جریب زمین مجموعی مبلغ ۴۶۵۰۰ چهل و شش هزار و پنجصد افغانی سالانه طور کوتاه المدت مطابق قانون اجاره دهی زمین های امارتی به اجاره میدهد. داوطلبان و شرکت های که ثابت نمایند اهلیت حقوقی، اهلیت و لیاقت مسلکی و تخنیکی منابع مالی، تجهزات و کارکنان فنی برای اجرات قرار داد و تجربه مربوط در موضوع فوق الذکر را داشته باشند الی ۱۰ یوم بعد از نشر اعلان با درخواست های خویش به مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه، آمریت اجاره دهی و سرمایه گذاری طویل المدت، ریاست عمومی اجاره دهی مراجعه نمایند.

فورمه های لازم اجاره دهی را همراه با شرطنامه از تاریخ ۱۴۴۸/۱/۷ الی ۱۴۴۸/۱/۱۷ از مدیریت ترتیب شرطنامه، ریاست عمومی اجاره دهی و سرمایه گذاری زمین، ریاست عمومی اراضی واقع ناحیه هفتم، مقابل قصر دارالامان، کابل - افغانستان اخذ نمایند.

مجلس مزایده که در حضور داشت داوطلبان واجد شرایط به تاریخ / /۱۴۴۸ ساعت قبل از ظهر در تالار جلسات ریاست عمومی اراضی تدویر می گردد اشتراک نمایند البته آفرهای ناوقت رسیده بعد از ضرب الاجل تعین شده رد می گردد. ۲۹۶۳

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت امارتی افسوتر پارکینگ های ملکیت خویش را واقع بندر تورغندی ولایت هرات به مساحت (۳۶۷۳۲) متر مربع زمین را از طریق داوطلبی (آفرگشایی) به کرایه میسپارد.

اشخاص حقیقی و حکمی واجد شرایط می توانند بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به ریاست تجارتی شرکت امارتی افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل مراجعه نموده شرطنامه را خریداری و تضمین نقدا اخذ می گردد.

جلسه ساعت ۱۰ قبل از ظهر در حضور داوطلبان با صلاحیت ایشان برگزار خواهد شد. ۲۹۴۳

اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه شرکت های خدمات مشورتی تحصیلی شهر کابل ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره د نور الرحمن د غلام سعید زوی، د پنجشیر ولایت عنابه ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۱۰ ناحیې فعلی اوسیدونکی د رییس، او مزمل د جمعه خان زوی، د کندوز ولایت امام صاحب ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۱۰ ناحیې فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلي بڼه وړاندې کړې، له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چی دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری. ۲۹۳۹

اطلاعیه لیلام

وزارت ارشاد، حج و اوقاف تعداد پنج عراده وسایط داغمه خویش را به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۵ ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر به حضور داشت هیئت موظف به لیلام واگذار نماید.

و پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.

محل لیلام کابل افغانستان مکروریان اول چهار راهی ملی بس مجتمع حجاج وزارت ارشاد، حج و اوقاف.

اعلان مزایده

موضوع:اعلان سرمایه گذاری بالای موازی ۸۷۲۱/۵٦ مترمربع زمین واقع بلاک دوم جاده احمد شاهیی ناحیه چهارم شهر کندهار ملکیت جمعیت هلال احمر افغانی.

جمعیت هلال احمر افغانی جهت سرمایه گذاری سرمایه گذاری بالای موازی ۸۷۲۱/۵٦ مترمربع زمین واقع بلاک دوم جاده احمد شاهیی ناحیه چهارم شهر کندهار ملکیت جمعیت هلال احمر افغانی که از طرف ریاست املاک و تعمیرات مطابق اسکیچ و نقشه ارایه گردیده است، به شکل پروپوزل گشایی و مزایده بالای کرایه دهی زمین صورت میگیرد. برای مدت ۲۵ سال به داوطلبی میسپارد. از تمام شرکت های که خواهان سرمایه گذاری بالای زمین متذکره باشند، جهت قرارداد مطابق شرطنامه درخواست های خویش را به آمریت قراردادها جمعیت هلال احمر افغانی واقع ناحیه پنجم، افشار سیلو دفترمرکزی سره میاشت بسپارند، خودشان بعد از نشر اعلان الی مدت (۲۱) یوم به مجلس داوطلبی مراجعه نموده و پول حق الاشتراک مبلغ (۱۰۰۰) افغانی نقداً اخذ میگردد.

اطلاعیه لیلام

موضوع: د ۳۲ عراده داغمه وسایطو اعلان په داسي حال کي چي دري ځلي باید د ورځپاڼې او رادیو له لاري اعلان شي.

د ټولګټو وزارت ۳۲ عراده داغمه وسایط په داسي حال کي اعلان ته سپاري چې د اصل قیمت ۱۵٪ فیصده پیسي مخکي له مزایدې نقدي تاکل شوي هیئت ته وسپاري د مزایدې نیټه ۱۴۰۵/۴/۶ وخت ۹:۰۰am ځاي اوومه ناحیه کي د ورکشاپونو آمریت په مربوطاتو کي.

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم محمد اشفق مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۴۱

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تابعیت به اسم احمد سیر فرزند خواجه عنایت ولدیت خواجه افضل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۶۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم سراج الدین بهبودی فرزند امام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۵۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم آبرسان به اسم نادیه بنت اسلام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۷۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم افشار به اسم عبدالعظیم فرزند عبدال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرزانه نوروزی بنت علی رضا دارای نمبر P04821673 مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۲۹۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۳۰۸۵ / ۱۱۰۴ مورخ ۱۳۸۹/۱۰/۶ مرتبه محکمه وثایق حوزه چهارم شهر کابل به اسم عادله بنت علی احمد ولدیت عبدالعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۲۹۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه وکالتنامه اخذ شده از جنرال قوسنلگری لاس انجلس امریگا دارای نمبر ۲۸۶ مورخ ۱۳۸۹/۴/۲۲ به اسم عادله بنت علی احمد ولدیت عبدالعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۲۹۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز مربوط موسسه ارتقای ظرفیت و تعلیمی افغانستان به مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه سیزدهم برچی کته بلندی به اسم حیدر فرزند قاسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم عبدالوحید مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۲۹۶۸

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از مواد قانون عقود و طرزالعمل تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می‌شود، وزارت صنعت و تجارت در نظر دارد تا قرارداد پروژه های ذیل را به داوطلبان برنده آن اعطا نماید:

شماره	نام پروژه	شماره داوطلبی	نام داوطلب برنده	شماره جواز داوطلب برنده	آدرس داوطلب برنده	قیمت ابتدائی قرارداد
1	اعمار دیواری احاطوی موازی (100) جریب زمین زون پروسیس صادرات ولایت پکتیا	MOIC/1405/NCB/ W-002	شرکت ساختمانی و سرکسازی سید عمر سادات و شرکت ساختمانی و سرکسازی ایمان صدیقی (JV)	(37175) (91615)	باغ چهل ستون، کابل، افغانستان	به مبلغ مجموعی (14،275،545) چهارده میلیون ودوصدو هفتادو پنج هزارو پنجصدو چهل وپنج افغانی
2	اعمار دیواری احاطوی موازی (100) جریب زمین زون پروسیس صادرات ولایت هرات	MOIC/1405/NCB/ W-003	شرکت ساختمانی و سرکسازی الطاف وردک بابا	(38070)	مقابل ترمینال، مرکز هرات - افغانستان	به مبلغ مجموعی (13،531،845.6) سیزده میلیون وپنجصدو سی و یکهزارو هشتصدو چهل وپنج اعشاریه شش افغانی

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت صنعت و تجارت واقع دارالامان، جوار شورای ملی سابقه، وفق احکام قانون عقود و طرزالعمل تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد".

اروپايي ټولنې ته د افغان پلاوي ...

د کابل د تخنیکي ناستو دوام بلل کېږي. په هغو خبرو کې هم د بېرته ستنېدونکو افغانانو د پېژندنې، د سفر اسنادو د صادرولو او د ستنېدو د میکانیزمونو په اړه بحث شوی و.

د اروپايي هېوادونو لپاره دا یوه کورنۍ اړتیا ده، ځکه د کډوالۍ موضوع په ډېرو اروپايي هېوادونو کې په یوه مهم سیاسي بحث بدله شوې او حکومتونه پر هغو واکمنانو او مشرانو فشار راوړي چې دوی ته یې رایه ورکړې ده.

د قونسلي خدمتونو اړتیا

د بروکسل د خبرو بل مهم اړخ د قونسلي خدمتونو مسئله ده. په اروپا کې سلګونه زره افغانان ژوند کوي. د پاسپورټونو تمدید، د زېږون او واده اسناد، تحصیلي اسناد، د هویت تصدیق او ګڼ نور اداري خدمات د قونسلي شبکې له لارې ترسره کېږي.

د ۲۰۲۱ کال وروسته د افغانستان د ډېرو ډیپلوماټیکو استازولیو وضعیت له ستونزو سره مخ شو. ځینې سفارتونه د پخوانیو ډیپلوماټانو تر اداري لاندې پاتې شول او ځینې نور په تدریجي توګه د اسلامي امارت تر څار او کنټرول لاندې راغلل. د دې وضعیت له امله افغانانو ته ګڼې اداري او حقوقي ستونزې رامنځته شوې وې. له همدې امله، اروپايي هېوادونه هم د قونسلي چارو د تنظیم لپاره عملاً اړتیا لري چې له کابل سره په تماس کې شي.

د جرمني د ډیپلوماټانو د منلو سیاسي پیغام

د بروکسل له سفر سره هممهاله داسې راپورونه هم خپاره شول چې جرمني د اسلامي امارت له لوري د معرفي شویو شپږو ډیپلوماټانو د منلو هوکړه کړې ده. که څه هم برلین تر اوسه په رسمي ډول د دې خبر بشپړ جزئیات نه دي اعلان کړي، خو که دا موضوع تایید شي، نو د افغانستان او اروپا د اړیکو په مسیر کې به یو مهم انعطافي ټکی وګڼل شي.

دلته باید یوه مهمه نکته روښانه شي. د ډیپلوماټانو منل او د حکومت رسمیت پېژندل دوه جلا موضوعات دي. په نړیوالو اړیکو کې ډېر داسې مثالونه شته چې هېوادونه د یو حکومت له رسمیت پېژندلو پرته د هغه ډیپلوماټان مني او ورسره تر یوې کچې تعامل ساتي. له همدې امله، د جرمني احتمالي پرېکړه د رسمیت پېژندنې معنا نه لري، خو دا ښیي چې اروپا د اړیکو د بشپړ پرېکون له سیاست څخه ورو ورو واټن اخلي.

د منتقدینو اندېښنې

دغه سفر په اروپا او د افغان سیاست او ښځینه قشر په ځینو کړیو کې له انتقادونو او پارونو سره هم مل و. یو شمېر اروپايي سیاستوال، د بشري حقونو فعالان او تش په نوم افغان منتقدین استدلال کوي چې له اسلامي امارت سره هر ډول تعامل د هغوی نړیوال مشروعیت پیاوړی کوي. دوی باور لري چې تر هغو چې بشپړ ټولشموله نظام نه وي رامنځته شوی، د ښځو حقونه نه وي ورکول شوي، سیاسي مشارکت او مدني ازادي(د دوی په قول) نه وي تامینه شوي؛ نو نه باید له اسلامي امارت سره د تعامل تمایل وښودل شي.

دا اندېښنې د سیاسي بحث یوه برخه ده، خو د نړیوال سیاست عملي تجربه ښیي چې انزوا تل مطلوبه پایله نه لري. په ډېرو مواردو کې محدود تعامل د بشپړې او مطلق واټن په پرتله ډېر اغېزناک تمام شوی دی.

اروپايي هېوادونه هم ښايي همدې نتیجې ته رسېدلي وي چې له افغانستان سره د اړیکو مطلقه انقطاع د دوی په ګټه نه ده، نو ځکه یې غور کړی چې باید د خبرو اترو یوه دریڅه پرانیستې واوسي.

له افغان لوري هم دا سفر یوازې یو سمبولیک پرمختګ نه ګڼل کېږي. کابل ته دا فرصت په لاس ورغلی چې وښيي له نړیوالې ټولنې سره د تعامل لپاره چمتو دی او کولای شي د عملي همکاریو په برخه کې د اعتماد فضا رامنځته کړي. خو یو شمېر بهرني او کورني کارپوهان او سیاسي تحلیلګران داسې انګېري چې که افغان حکومت غواړي دا ډول تعاملات پراخ شي، باید په هغو برخو کې عملي انعطاف او همکاري وښيي چې نړیواله ټولنه یې د بحث وړ ګڼي.

د پایلې په توګه یې ویلی شو، چې د بروکسل وروستۍ ناسته د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ د اړیکو په تاریخ کې یو مهم پرمختګ ګڼل کېدای شي. که څه هم دا لا د رسمیت پېژندنې مرحله نه ده او نه هم د سیاسي اختلافاتو د پای ته رسېدو معنا لري، خو دا حقیقت څرګندوي چې د بشپړې انزوا تګلاره ورو ورو د محدود تعامل پر لور بدلېږي.

اروپا د خپلو اړتیاوو له امله له افغانستان سره خبرو ته اړه شوې او کابل هم د نړیوال تعامل د پراختیا فرصت موندلی دی. د دواړو لورو ترمنځ د باور کچه لا په لوړه فریکونسي کې ده، خو د خبرو اترو دوام ښيي چې د اړیکو دروازې په بشپړه توګه تړلې نه دي.

د نړیوال سیاست په ډګر کې لوی بدلونونه عموماً له کوچنیو تماسونو پیلېږي. د بروکسل ناسته هم ښايي د همدې لړۍ یوه برخه وي. دا به لرې وي چې دا ناسته د رسمیت پېژندنې یو ستر شین څراغ وبولو خو دغه نښې به په راتلونکو کلونو کې د یوه پراخ ډیپلوماټیک مسیر بڼه خپله کړي.

د عاشورا ورځ؛ د انبیاوو ...

د دې ستر نعمت یادونه د عبادت او روژې له لارې وشوه. دا حقیقت مسلمان ته ور زده کوي چې د نعمتونو شکر یوازې په ژبه نه کېږي، بلکې د الله تعالی د اطاعت، عبادت او د هغه د احکامو د پلي کولو له لارې عملي بڼه خپلوي. د انسان په ژوند کې هره کامیابي، هره اساني او هره لاسته راوړنه د شکر غوښتنه کوي، او عاشورا د همدې شکر یو عملي درس وړاندې کوي.

د اسلامي تاریخ په اوږدو کې مسلمانانو د عاشورا له پیغام څخه الهام اخیستی دی. کله چې اسلامي امت له سختو ازموینو سره مخ شوی، علماوو او مصلحینو تل د حضرت موسی علیه السلام د مبارزې مثال وړاندې کړی دی. د حق او باطل ترمنځ دا تقابل د تاریخ له پیل څخه روان دی او تر قیامته به دوام ولري؛ خو هغه څه چې نه بدلېږي، د الله تعالی دا وعده ده چې د حق ملاتړي به په پای کې بریالي کېږي. په معاصر وخت کې چې نړۍ د سیاسي شخړو، اقتصادي فشارونو، فکري یرغلونو او اخلاقي ننګونو شاهد ده، د عاشورا پیغام لا هم خپل ژوندی ارزښت لري. نن هم ملتونه د عدالت، خپلواکۍ او عزت لپاره مبارزې کوي. نن هم انسان د ظاهري قدرتونو له لویوالي اغېزمنېږي؛ خو د تاریخ پاڼې ښيي چې سترې امپراتورۍ، ځواکمن نظامونه او پراخ قدرتونه د وخت په تېرېدو له منځه تللي دي، حال دا چې حق، عدالت او الهي ارزښتونه ژوندي پاتې شوي دي. د فرعون، نمرود او نورو سرکښو واکمنانو برخلیک انسان ته یادونه کوي چې ځواک د تل لپاره نه پاتې کېږي؛ خو حق تل خپل ارزښت ساتي.

د حنفي فقهې له مخې د عاشورا په ورځ روژه نیول سنت او د ستر اجر سبب دی. علماوو لیکلي چې له عاشورا سره د نهمې ورځې روژه هم ونیول شي، څو د رسول الله لارښوونه عملي شي. تر څنګ یې د قرآن کریم تلاوت، ذکر، دعا، استغفار، صدقه او نور نیک اعمال هم د دې ورځې له غوره کارونو څخه دي. هغه څه چې شرعي اصل نه لري او د دین برخه نه ګڼل کېږي، باید له هغو څخه ډډه وشي، ځکه د عاشورا حقیقي عظمت د سنتو په پیروي او د انبیاوو له پیغام څخه په عبرت اخیستلو کې دی.

عاشورا د انبیاوو د تاریخ یوه مبارکه خاطره ده؛ داسې خاطره چې د الهي نصرت، د حق د بریا، د صبر، شکر او استقامت درسونه له ځان سره لري. دا ورځ مسلمان ته یادونه کوي چې د الله تعالی قدرت تر هر ځواک لوړ دی، د ظالمانو پای زوال دی او د مؤمن لپاره د عزت لاره د ایمان، توکل او اطاعت له لارې تېرېږي. له همدې امله عاشورا یوازې یوه تاریخي ورځ نه ده، بلکې د فکر، عبرت، روحاني روزنې او د ایمان د نوي کولو یوه تلپاتې مدرسه ده.

د ډیجیټلي اقتصاد پراختیا ...

د سایبري امنیت مسئله د دغو ننګونو له مهمو برخو څخه ده. هر څومره چې اقتصادي فعالیتونه ډیجیټلي کېږي، هماغومره د معلوماتو د خوندیتوب اړتیا هم زیاتېږي. د معلوماتو غلا، سایبري بریدونه او د محرمیت ستونزې هغه موضوعات دي چې د ډیجیټلي اقتصاد له پراختیا سره یو ځای راولاړېږي. له همدې امله د ټکنالوژۍ پراختیا باید د امنیتي تدابیرو له پیاوړتیا سره مل وي. د مهارتونو مسئله هم مهم اهمیت لري. ډیجیټلي اقتصاد داسې بشري ظرفیتونو ته اړتیا لري چې د ټکنالوژۍ له بدلونونو سره اشنا وي. هغه ټولنې چې د معلوماتي ټکنالوژۍ، سافټویر جوړونې، ډیجیټلي مدیریت او نوښت په برخو کې پانګونه کوي، د دې نوي اقتصاد له فرصتونو څخه ډېره ګټه ترلاسه کوي. برعکس، هغه چاپېریالونه چې د مهارتونو له کمښت سره مخ وي، د سیالۍ په دې نوي فضا کې وروسته پاتې کېږي. د ډیجیټلي اقتصاد د پراختیا بله مهمه پایله د نړیوالو اقتصادي اړیکو بدلېدل دي. پخوا به اقتصادي نفوذ تر ډېره د طبیعي سرچینو او صنعتي تولید له کچې سره تړاو درلود، خو اوس معلوماتي ظرفیتونه، ډیجیټلي خدمات او تخنیکي نوښتونه هم د نړیوال نفوذ مهم عوامل ګرځېدلي دي. همدا علت دی چې هېوادونه د مصنوعي ځیرکتیا، معلوماتي ټکنالوژۍ او ډیجیټلي زیربناوو په برخو کې پراخې پانګونې کوي.

افغانستان هم د دې نړیوال بدلون له بهیر څخه جلا نه دی. د مخابراتي خدمتونو پراختیا، د انټرنېټ لاسرسی، د ډیجیټلي خدماتو زیاتوالی او د ځوان نسل لېوالتیا د دې امکان رامنځته کوي چې هېواد د ډیجیټلي اقتصاد له فرصتونو څخه لا ډېره ګټه واخلي. د افغانستان ځوانان د تخنیکي مهارتونو، انلاین فعالیتونو او نوښتګرو پروژو له لارې کولای شي نړیوالو بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي او د اقتصادي فعالیتونو نوې لارې پرانیزي. دا ظرفیت د هېواد لپاره د عاید، کارموندنې او اقتصادي پراختیا نوې دروازې پرانېستلای شي. د افغانستان اسلامي امارت هم د اقتصادي ودې، عصري خدماتو او د ټکنالوژۍ د کارونې په برخه کې د پرمختګ اړتیا درک کړې ده. د اداري چارو د ډیجیټلي کولو، د خدماتو د اسانتیا او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره ترسره کېدونکي اقدامات کولای شي د ډیجیټلي اقتصاد د ودې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي. هر څومره چې تخنیکي ظرفیتونه پیاوړي کېږي او ځوانانو ته د نوښت فرصتونه برابرېږي، هماغومره به د ډیجیټلي اقتصاد ونډه هم د هېواد په اقتصادي حرکت کې پراخېږي.

داخبره واضحه شوه چې ډیجیټلي اقتصاد د معاصرې نړۍ د اقتصادي بدلونونو یوه مهمه څپه ده. په دې نوي اقتصادي چاپېریال کې معلومات، پوهه، نوښت او ټکنالوژي د شتمنۍ د تولید مهمې سرچینې ګرځېدلې دي. هغه ملتونه چې د مهارتونو، معلوماتي ټکنالوژۍ او ډیجیټلي نوښتونو په برخه کې پانګونه کوي، د راتلونکي اقتصاد په سیالیو کې به غوره موقعیت ولري. د شتمنۍ نوې بڼه نور یوازې په فابریکو، ځمکو او طبیعي سرچینو پورې محدوده نه ده؛ د انسان فکر، معلومات او نوښت د اقتصادي قدرت هغه سرچینې دي چې د راتلونکې نړۍ مسیر ټاکي.

د انرژۍ راتلونکی ...

سرچینو د اغېزمنې کارونې لپاره رواني پروژې کولای شي د هېواد د انرژۍ اړتیاوو د پوره کولو او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره مهم فرصتونه رامنځته کړي. انرژي د صنعت، پانګونې او تولید لپاره مهمه اړتیا ده او هر پرمختګ په دې برخه کې د اقتصادي ودې له بهیر سره مستقیمه اړیکه لري.

نړۍ د انرژۍ د یوه نوي پړاو پر لور روانه ده. نفت او ګاز به لا هم د یوې مودې لپاره خپل اهمیت وساتي، خو د لمریزې انرژۍ، بادي برېښنا، اوبو، اتومي انرژۍ او نوو ټکنالوژیو ونډه ورځ تر بلې پراخېږي. د راتلونکې نړۍ اقتصادي سیالۍ به تر ډېره د انرژۍ د تولید، مدیریت او نوښت له ظرفیتونو سره تړلې وي. هغه ملتونه چې د انرژۍ د نوو سرچینو له فرصتونو څخه اغېزمنه ګټه واخلي، د اقتصادي پرمختګ، صنعتي ودې او ملي ثبات لپاره به غوره امکانات ولري. د انرژۍ راتلونکی د سرچینو د بدلون تر څنګ د فکر، نوښت او علمي پرمختګ کیسه هم ده، او همدا بدلون به د یوویشتمې پېړۍ د اقتصادي او صنعتي تحولاتو مهم مسیر وټاکي.

ولې په نړیواله کچه ...

چې نظریاتو یې اوس زمان کار ورکړی او په عمل کې پلي شوي دي.

فیثا غورث هم یوناني فیلسوف و، چې د فلسفي ریاضیاتو لومړنی لوی عالم تېر شوی دی؛ خو د طالس په نامه فیلسوف بیا د یونان له هغه لومړنیو فیلسوفانو څخه ګڼل کېده چې فلسفې یې د منطق او استدلال په بڼه د یوناني فلسفې بنسټ اېښودی دی.

که په ځانګړې ډول د ژبې د اهمیت په اړه وغږېږو، نو ژبه په فردي او ټولنیز ډول له یو بل سره د افهام تفهیم وسیله ده او له یو بل سره د نیکو اړیکو پاللو هغه رمز پکې پروت دی، چې د انسانانو ترمنځ یې (انس) رامنځ ته کړی ژبه ده چې په وسیله یې پوهه له یوه کس نه بل ته انتقالېږي. ژبه ده چې د قومونو او دولتونو ترمنځ یې د سیاسي ډیپلوماتیکو اړیکو د ساتلو لارې چارې سمبالوي. ژبه ده چې یو هېواد په سیاسي او ټولنیز لحاظ له بل هېواد سره اشنا کوي، ځکه ژبه ده چې د یوه ملت له کلتور او فرهنګ څخه له ماورای قومونو او ملتونو ته ترجماني کوي. که پورته یې د ښکنو اړخونه وګڼو، ژبه بلا هم ده، ځکه که بې سنجشه وخوځول شي نو داسې بېرانۍ را منځ ته کوي چې جبېره یې بیا سخته وي؛ خو ښه داده چې ژبه په احتیاط وخوځول شي، ځکه د هر څه زخم جوړېږي او هېرېږي؛ خو ژبه د بل کس په بدن د زخم پرځای داسې (پرهار) پرېږدي چې هېڅکله نه ورکېږي.

د تدارکاتو کمېسیون ...

د اقتصادي معاونیت د معلوماتو له مخې، په منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې د بادغیس د قادس خوردک د اوبو ذخیروي بند، د بغلان د کیلګې بند د جیوټیکنیکي مطالعاتو او په پکتیکا کې د ۶۰۰ متریک ټنه په ظرفیت د سرې خونې د پاتې چارو بشپړول، د اموسیند نفتي حوزې د نفتو د زېرمه کولو لپاره د لس زره ټنه ظرفیت لرونکو تاسیساتو ډیزاین او نصب، د ارزګان په چهارچینو ولسوالۍ کې د ۵۰ بستریز عمومي روغتون جوړول، د ارزګان ولایت مرکز ترینکوټ کې د بار وړونکو موټرونو لپاره د ترمینل جوړول، د کابل ښار یو شمېر داخلي سړکونو جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو بشپړول شامل دي.

خبرپاڼې له مخې، یادې منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې تمویلېږي.

د هندي سوداګرو ...

تر عنوان لاندې د هند په نوي ډیلي ښار کې ترسره شوه او په غونډه کې د افغانستان او هندوستان ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا، د ګډو پانګونو د زیاتوالي او له شته فرصتونو د اغېزناکې ګټې اخیستنې په اړه خبرې وشوې.

سیدکریم هاشمي ویلي، چې افغانستان او هند اوږدمهاله تاریخي، کلتوري او دوستانه اړیکې لري او دا اړیکې کولای شي د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د لا پراختیا لپاره زمینه برابره کړي.

ده ټینګار کړی، چې سوداګري یوازې د توکو د اخیستلو او پلورلو معنا نه لري؛ بلکې د کارموندنې، اقتصادي ودې، د خلکو د سوکالۍ او د ملتونو د نږدېوالي وسیله ده.

نوموړي زیاته کړې چې افغانستان یوازې د مصرف بازار نه دی، بلکې د زراعت، معادن، غالیو، لاسي صنایعو، وچې مېوې، زعفران، قیمتي ډبرو، مرمر او نورو ارزښتناکو تولیداتو برخه کې پراخ ظرفیتونه لري او همدارنګه هند د صنعت، ټکنالوجۍ، درملو، ماشین‌الاتو او صنعتي تولیداتو برخو کې لوی بازار او ظرفیت لري چې د دواړو هېوادونو همکارۍ کولای شي متوازنه او ګټوره وي.

د ده په خبره چې د افغانستان او هند ترمنځ سوداګریزې اړیکې باید یوازې د صادراتو او وارداتو تر کچې محدودې نه وي، بلکې باید د ګډو پانګونو، ګډو شرکتونو، ټکنالوجۍ لېږد، د بشري ځواک روزنې او صنعتي همکاریو پر لور پراخې شي.

خبرپاڼه کې راغلي چې هاشمي د غونډې له ګډونوالو وغوښتل، چې په نږدې راتلونکي کې افغانستان ته سفر وکړي او له نږدې د دغه هېواد له اقتصادي او سوداګریزو ظرفیتونو سره بلد شي.

سرچینه زیاتوي، په هند کې د افغانستان سفیر مفتي نوراحمد نور د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې او ویې ویل چې سفارت تل د سوداګرو ترمنځ د اړیکو د اسانتیا لپاره چمتو دی.

خبرپاڼه له مخې، وروسته د پي‌ایچ‌ډي سوداګرۍ او صنایعو خونې رییس سنتوش جوشي د افغان پلاوي هرکلی وکړ او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

هغه وویل چې دغه خونه له افغانستان سره په بېلابېلو برخو لکه درمل جوړولو، لوجستیک، کارګو، صنعتي تولیداتو او پانګونې برخو کې همکارۍ ته چمتو ده.

هغه ژمنه کړې چې په نږدې راتلونکي کې به د هندي سوداګرو او پانګه‌والو یو ۲۰ کسیز پلاوی افغانستان ته سفر وکړي او له نږدې به د پانګونې فرصتونه وڅېړي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې لیکلي چې په پای کې دواړو لورو د ګډو ناستو د دوام، د خصوصي سکټور ترمنځ د اړیکو د پراختیا او د اقتصادي همکاریو د زیاتوالي پر اهمیت ټینګار وکړ.

د محرم الحرام د مراسمو ...

او راپورونو ارزونه وشوه او په تړاو یې اړوندو ارګانونو ته د لازمو اقداماتو سپارښتنې او لارښوونې شوې دي.

د دې ترڅنګ د محرم الحرام په میاشت کې د اهل تشیع هېوادوالو د امنیت د لا ټینګښت او خوندیتوب لپاره پر ځانګړې پاملرنې ټینګار وشو.

د یادونې وړ ده، چې په ټولو ولایتونو کې اړوند کمېسیونونه هم، د امنیت د لا ټینګښت په پار په منظم ډول غونډې او اجراات ترسره کوي.

د بریکس غړو هېوادونو ...

ودې پر بنسټ ولاړه وي.

بریکس سازمان په ۲۰۰۹ کال کې د برازیل، روسیې، هند، چین او سویلي افریقا له لوري رامنځته شو او اوس مهال ۱۱ بشپړ غړي لري. دغه سازمان د نړیوال اقتصاد او سیاست په ډګر کې د اغېزناکو جوړښتونو له ډلې ګڼل کېږي او د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، امنیتي او سیاسي همکاریو د پراختیا لپاره کار کوي.

افغانستان اسلامي امارت هم له دې وړاندې د بریکس له غړو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا، اقتصادي همکاریو او په راتلونکو غونډو کې د ګډون لېوالتیا څرګنده کړې ده. د چارو شنونکي په دې باور دي، چې د افغانستان فعاله ونډه په سیمه‌ییزو اقتصادي او سیاسي فورمونو کې کولی شي د هېواد د اقتصادي ودې، پانګونې جذب او د سیمه‌ییزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره نوي فرصتونه برابر کړي.

افغانستان او قزاقستان ...

سریک ژومانګارین په مشرۍ کابل ته د قزاقستاني پلاوي د سفر پر مهال ترسره شوي او په فورم کې له ۵۰ څخه زیاتو قزاقستاني او افغان شرکتونو ګډون کړی و.

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، یاد قراردادونه د درملو، غنمو، اوړو، غوړیو، تازه او وچو مېوو، سبزیجاتو، کچالو او بانکي خدمتونو برخې رانغاړي. چارواکي وایي، د ۲۰۲۲ کال راهیسې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ سوداګري نږدې دوه برابره شوې او دواړه هېوادونه هڅه کوي چې د کلنۍ سوداګرۍ کچه ۳ میلیارده ډالرو ته ورسوي.

قطر له افغانستان سره ...

نوموړي قطر د افغانستان نږدې همکار بللی او هیله یې څرګنده کړې، چې په راتلونکي کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ ورزشي اړیکې لا پراخې او پیاوړې شي.

بلخوا د قطر سفیر د افغانستان د ورزش اداري له مشرتابه سره د لیدنې هرکلی کړی او ویلي یې دي، چې قطر له افغانستان سره د ورزش په ګډون په بېلابېلو برخو کې ښې او پیاوړې اړیکې غواړي.

د کډوالو وزارت ...

ټاکل شوې ده، چې د دغو پروژو له لارې په هرات، بادغیس، غور، فراه او ننګرهار ولایتونو کې ۱۳۲۰ کورنۍ او ۱۳۵ زره او ۶۲۳ داخلي بېځایه شوي بېرته راستنېدونکي او د سیمې اوسېدونکي له مرستو برخمن شي.

د زمري ۲۴مې د نمانځنې ...

تکالیفو او اتلولیو څخه باخبره اوسي.

همدارنګه د ناستې په لړ کې پرېکړه وشوه، چې راتلونکې غونډې ته باید اړوندې اداري د زمري۲۴مه د ښې نمانځلو په موخه خپلې کاري برنامې او نوښتونه چمتو او وړاندې کړي.

هېواد کې د ۲۱ ټرانسپورټي ...

او غیر مستقیم ډول ۱۰ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.»

په ورته مهال د اقتصادي چارو کارپوه، جهانګیر ناصري' وایي: «معیاري ترمینلونه د هېوادونو ټرانسپورټ کې منظم والی راولي او دې ته زمینه برابروي چې سیمې اوسېدونکي له ګڼ شمېر آسانتیاوو څخه برخمن کوي. همدارنګه د سیمو اقتصادي پروژو ته ارزښت ور بخښي او ور سره د سیمې پرمختګ کوي.»

د نوموړي په وینا: «که چېرته د هېواد دننه په هره سیمه کې معیاري ترمینلونه جوړ شي، نو دا چاره به د خلکو ستونزې حل کړي، آزاد ټرانزېټ ته به زمینه برابره شي، محصولات او تولیدات به په آسانه بازارونو ته لاره پیدا کړي او د پانګې جذب ته به لارې هواره کړي.»

موټر چلوونکی' ظریف' وایي: «د باربري ترمینلونو شتون د مالونو چټک لېږد رالېږد سبب کېږي، مالونه به خوندي رسېږي او ور سره به نرخونه د پام وړ راټیټ شي.» د ظریف په خبره: «د معیاري ترمینلونو سره د موټر چلوونکو ستونزې کمېږي، ټرانسپورټ آسانه کېږي، کارونه چټک کېږي او د ډېرو عوایدو راټولېدو سبب کېږي، نو په کار ده چې هر ولایت ټرانسپورټي او باربري ترمینلونه ولري تر څو ور سره په کارونو کې سهولتونه برابر شي او ور سره آسانتیا رامنځته شي.»

د یادونې وړه ده چې د اسلامي امارت پر افغانستان د بیا ځلي واکمنېدو سره د هېواد د پرمختګ برخه کې کوټلې ګامونه اخیستل شوي او د هېوادوالو د ستونزو د حل په موخه په بېلا بېلو برخو کې حیاتي پروژو کارونه پیل شوي او د ګڼ شمېر بشپړ شوي چې اوسمهال د عامه ګټې سبب ګرځېدلي دي.

زیارمل هوتک

د هرات - مزارشریف اوسپنې ...

به د افغانستان د کاني سرچینو له لارې تأمین شي. پخوا خصوصي بانکونو په دې پروژه کې شاوخوا ۵۵ میلیارده افغانۍ پانګونه اعلان کړې وه.

په ورته مهال، د ټولګټو وزارت وایي، چې دا پروژه د افغانستان د سیمې له هېوادونو سره د نښلولو له مهمو رېلي دهلیزونو څخه ګڼل کېږي.

د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس وایي: «د هرات – مزارشریف د وسپنې پټلۍ کرښه د افغانستان له مهمو اقتصادي دهلېزونو څخه شمېرل کېږي، چې نه یوازې د هېواد شمالي ولایتونه له یو بل سره نښلوي، بلکې ایران او ترکیه هم د افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا هېوادونو او ورپسې له چین سره تړي.»

اقتصادي کارپوهان وايي که دا پروژه عملي شي، نو د افغانستان او سیمې د ټرانزېټ په نقشه کې به یو له مهمو بدلونونو څخه وي.

د هرات – مزارشریف د وسپنې پټلۍ د افغانستان لویدیځ ولایت هرات شمال کې له مزارشریف سره نښلوي او له هغه ځایه د ایران، منځنۍ اسیا او د سیمې له ټرانزېټي شبکو سره د اتصال زمینه برابروي.

بادغیس کې د ۴ پروژو ...

د زیمات په کلي کې یو پلچک هم جوړ شي، چې ۱۵.۷۰ متره اوږدوالی، ۱۳ متره سور، ۶ متره لوړوالی ولري. د یادونې وړ ده، چې د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د سېلابونو او طبیعي پېښو د زیانونو مخنیوی وشي او د سیمې اوسېدونکو د تګ راتګ او خوندیتوب لپاره به لازمې اسانتیاوې برابرې شي.

د غزې ۱.۷ میلیونه بې‌ځایه ...

۶۰۰ زره کسان کافي ښناک اوبو ته لاسرسی نه لري.

په همدې حال کې الجزیرې راپور ورکړی، چې د اسرائیلي رژیم د جګړې د دوام له امله د شکر ناروغان د درملو او طبي تجهیزاتو له جدي کمښت سره مخ شوي دي.

د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له میاشتې راهیسې، د غزې ترانګې ته د درملو، طبي تجهیزاتو او نورو اړینو توکو پر داخلېدو د محدودیتونو له امله روغتیایي خدمتونو او اړینو درملو ته د ناروغانو لاسرسی په څرګند ډول کم شوی او ګڼ ناروغان له جدي ستونزو سره مخ دي.

د سیمې امنیت ...

مسکو د ایران او امریکا ترمنځ د هر ډول رغنده مذاکراتو ملاتړ کوي او چمتو دی، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو د اسانتیا او منځګړیتوب په برخه کې لازمې مرستې تر سره کړي. د ده په وینا: د اختلافاتو د حل تر ټولو اغېزمنه لار مستقیمې خبرې او سیاسي تعاملات دي، نه پوځي فشارونه او د تقابل سیاستونه.

سیاسي شنونکي په دې باور دي، چې د روسیې دا دریځ د سیمه‌ییزو شخړو د سیاسي حل ملاتړ څرګندوي. د دوی په اند، په اوسنیو شرایطو کې د خبرو دوام او د ډیپلوماتیکو لارو پیاوړتیا کولی شي د منځني ختیځ د لا بې‌ثباتۍ مخه ونیسي او د سیمې هېوادونو ته د ګډ امنیت او همکارۍ لپاره مناسب فرصتونه برابر کړي.

مخابراتي شرکتونو سره ...

به قانوني چلند وشي.

همدارز دغې ناسته کې تاکید وشو چې، د مخابراتي خدمتونو کیفیت او مناسبې بیې د مصرفوونکو اساسي حقونه دي او د تنظیم اداره به د دغو حقونو د خوندي کولو لپاره خپله ژمنتیا ثابته ساتي.

د یادونې وړ ده د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د رهبرۍ پرېکړې په اساس ټولو مخابراتي شبکو ته چې د پکیجونو په برخه کې یې بیې لوړې کړې وې تر یکشنبې ورځې وروستۍ نېټه وټاکل شوه څو خپلې بیې بېرته پخواني حالت ته یوسي.

په غونډه کې د اترا اداري لخوا د مخابراتي شرکتونو استازو ته تر راتلونکې یکشنبې پورې وخت ورکړل شو ترڅو په غږیزو او انټرنټي بیو کې وروستي ډیروالی بېرته پخواني حالت ته یوسي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت هېواد کې د مخابراتي او ټکنالوژۍ سکټور د ودې او رهبرۍ دنده پر غاړه لري او خپلو هېوادوالو ته داډ ورکوي چې د دوی غوښتنې په پام کې نیسي، ستونزو ته یې رسېدنه کوي، نظرونه ته یې احترام لري او هڅه کوي د نافذه قوانینو او مقرراتو په اساس له مخابراتي مارکېټ څارنه او مدیریت وکړي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاین مسئول: یما عرب
ویبپاڼې مسئول: ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

ټویټر | بریښنایي بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	۶۴.۷۵ اف
یو یورو	۷٤.۰۰ اف
یو پونډ	۸۵.۲۰ اف
یو درهم	۱۷.٦۳ اف
زر ریال	۰٤۰ اف
زر کلداري	۲۲۳ اف
زر کلداري	۷٤۷ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
۰٤:٤۲	۳٤°C	۳۷°C	٤۱°C	٤۲°C	٤۳°C	٤۳°C	۳۲°C	۰۷:۱۰

د زمري ۲۴مې د نمانځنې په موخه مشورتي غونډه تر سره شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند د فرهنګ او هنر مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي په مشرۍ د زمري ۲۴مه (د فتحې) ورځې د غوره نمانځنې په موخه د بېلابېلو ادارو استازو په شتون کې د ټاکل شوې کمېټې مشورتي غونډه وشوه.

په دې غونډه کې د فرهنګ او هنر مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي د زمري ۲۴مه (د فتحې) ورځې د نمانځنې د ارزښت په اړه خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې دا ورځ باید په شاندارو مراسمو او د ولس په پراخ ګډون سره ونمانځل شي.

وروسته د خپرونو چارو معین مولوي مهاجر فراهي او د کمېټې ټولو غړو په خپل وار سره خبرې وکړې او خپلې رغنده مشورې، نظرونه او وړاندیزونه یې وړاندې کړل.

د کمېټې غړو وویل؛ د هېواد ازادي د ټول ولس ګډه لاسته راوړنه ده او د دې ورځې د نمانځنې موخه راتلونکو نسلونو ته د افغانانو د قربانیو او اتلولیو په اړه معلومات لېږدول دي، تر څو راتلونکي نسلونه د اشغالګرو ځواکونو په وړاندې د افغانانو د تېر شل کلن جهاد، قربانیو ...

۷مخ

بهرني لنډ خبرونه

ملګري ملتونه:

د غزې ۱.۷ میلیونه بې‌ځایه شوي کسان د اوبو او سرپناه له کمښت سره مخ دي

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (OCHA) ویلي، چې نږدې ۱.۷ میلیونه بې‌ځایه شوي فلسطینیان، چې د غزې د ټول نفوس شاوخوا ۸۰ سلنه جوړوي، د اوبو، سرپناه او لومړنیو خدماتو له سخت کمښت سره مخ دي.

د الجزیرې د راپور له مخې، له ۵۹ زرو څخه ډېرې سرپناوې هره یوه له اتو څخه زیات کسان ځای پر ځای کړي او شاوخوا ۳۸ زره او ۵۰۰ کسان اړ دي چې شپې په ازاده فضا کې تېرې کړي.

راپور زیاتوي، چې په ارزول شویو سیمو کې نږدې ...

۷مخ

لاوروف:

د سیمې امنیت د ایتلافونو نه، بلکې د سیاسي خبرو له لارې تأمینېږي

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف ویلي، چې د ایران پر ضد د هر ډول عربي ایتلاف جوړول به د سیمې د اوسنیو ستونزو د حل پر ځای کړکېچونه لا زیات کړي او دا ډول اقدامات به د منځني ختیځ پر امنیتي وضعیت منفي اغېزې ولري.

لاوروف په خپلو تازه څرګندونو کې ټینګار کړی، چې تر اوسه د ایران پر وړاندې د یوه منظم عربي ایتلاف د رامنځته کېدو څرګندې

نښې نه لیدل کېږي؛ خو که داسې هڅې ترسره شي، نو د سیمې د ثبات او امنیت لپاره به ګټورې نه وي. نوموړي زیاته کړې، چې د منځني ختیځ حساس وضعیت له ټولو لورو غواړي، چې د سیاسي خبرو، متقابل تفاهم او ډیپلوماتیکو لارو چارو ته لومړیتوب ورکړي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر همداراز ویلي چې ...

۷مخ

کارپوهان:

د هرات - مزارشریف اوسپنې پټلۍ به د سیمې د ټرانزېټ په نقشه کې ستر بدلون راولي

د ایران او افغانستان د سوداګرۍ ګډې خونې رئیس وایي: د هرات - مزارشریف د اوسپنې پټلۍ پروژه د ایران او افغانستان ترمنځ او بیا تر منځنۍ آسیا پورې د رېلي اتصال پیاوړي کېدو په موخه عملي مرحلې ته داخله شوې.

د ده په وینا: د دې اوسپنې پټلۍ ترون

د کابل او تهران ترمنځ لاسلیک شوی او که بشپړه شي، نو پر نورو صادراتي لارو به د دې هېواد تکیه راکمه کړي او د ازبکستان او تاجکستان بازارونو ته به مستقیم لاسرسی برابر کړي. ده همدارنګه ټینګار کړی، چې د دې پروژې یوه برخه تمویل ...

۷مخ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت:

هېواد کې د ۲۱ ټرانسپورټي او باربري ترمینلونو د جوړېدو کارونه جریان لري

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسئولینو ویلي دي چې د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې د ۲۱ ټرانسپورټي او باربري ترمینلونو کارونه جریان لري. دوي وایي: په ترمینلونو باندې څه باندې ۲.۵ میلیارده افغانۍ لګښت راځي او په پروژو کې زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. اقتصادي کارپوه او موټر چلوونکي دا ډول پروژې د منظم ټرانسپورټ په برخه کې حیاتي بولي او زیاتوي چې د معیاري ترمینلونو سره سیمې پرمختګ کوي او آسانه ټرانسپورټ تر څنګ د مالونو په

لېږد رالېږد کې چټکتیا رامنځته کوي.

په دې هکله د یاد وزارت ویاند، حکمت الله آصفي' د هېواد ورځپاڼې خبریال سره د مرکې په لړ کې ویلي دي' چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ۲۱ ټرانسپورټي او باربري ترمینلونو کار روان دی چې د بشپړېدو سره به یې هېوادوال او سیمه ییز اوسېدونکو له ګڼ شمېر آسانتیاوو څخه برخمن شي. د آصفي په خبره: «ترمینلونه په کابل، کندهار، هرات، بدخشان، بغلان، بلخ، پروان، فراه، زابل، ارزګان او بامیانو ولایتونو کې د کار لاندې دي چې پرې ټولیز لګښت څه باندې ۲.۵ میلیارده افغانۍ راځي.» د نوموړي په خبره: «ترمینلونه له بېلا بېلو آسانتیاوو په لرلو سره جوړېږي چې په کې به مجهز تم ځایونه، انتظار ځایونه، مسجدونه، لمبلو ځایونه، اداري تعمیرات او نور اړین ځایونه دي چې په کې په مستقیم ...

۷مخ

مخابراتي شرکتونو سره د بنډلونو (پکیجونو) د بیو د راټیټیدو اړوند ناسته وشوه!

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداري (اترا) مخابراتي شرکتونو سره د وړاندې کېدونکو بنډلونو د بیو، کیفیت، ستونزو ته د رسېدنې او خدماتو د وړاندې کولو اړوند ناسته وکړه.

دغه غونډه د اترا اداري تخنیکي مرستیال ښاغلي استاد عطاء محمد یاري په مشرۍ جوړه شوې وه چې د وزارت د اترا اداري مالي او اداري مرستیال ښاغلي مفتي نجم الدین ملاخیل او ګڼو مسؤلینو هم پکې ګډون درلود.

په غونډه کې د هېواد په مخابراتي سکټور، د سکټور پر مکلفیتونو او هغو اصولو خبرې وشوې چې په اساس یې مخابراتي مارکېټ تنظیم، مدیریت او رهبري کېږي.

ناسته کې د مخابراتو وزارت د اترا اداري تخنیکي مرستیال ټینګار وکړ د مخابراتي خدمتونو د تنظیم (اترا) اداره مکلفه ده چې د مخابراتي شرکتونو د پیرودونکو حقونه خوندي او ملاتړ یې وکړي همدا راز نوموړي یادونه وکړه چې ټول مخابراتي شرکتونه اړ دي څو د ټاکل شویو اصولو او طرزالعملونو په اساس چوپرتیاوې وړاندې کړي او هغه معیارونه چې ورته ټاکل شوي له هغې سرغړونه ونکړي او د سرغړونې په صورت کې به د نافذه قوانینو په اساس خلاف عمل ګڼل کېږي چې سرغړوونکو سره

۷مخ

بهره‌برداری از سه سیستم هشدار پیش از وقوع سیلاب در زابل

اداره آمادگی مبارزه با حوادث اعلام کرده که سه سیستم هشدار پیش از وقوع سیلاب با حمایت مالی دفتر برنامه توسعه سازمان ملل متحد (UNDP) در ولسوالی‌های شاه‌جوی، نوبهار و سیوری ولایت زابل نصب و به بهره‌برداری سپرده شده است.

این سیستم‌ها سطح و سرعت جریان آب را اندازه‌گیری کرده و در صورت افزایش خطر سیلاب، از طریق فعال شدن زنگ هشدار، باشندگان محل را آگاه می‌سازند.

به گفته این اداره، همزمان با اجرای این پروژه، برای ۶۰ تن از باشندگان هر منطقه در زمینه خطرات سیلاب، راه‌های پیشگیری و اقدامات احتیاطی آموزش‌های لازم ارائیه شده است.

در عین‌حال، پنج تن از داوطلبان محلی برای استفاده و نگهداری این سیستم‌ها آموزش دیده‌اند.

اداره آمادگی مبارزه با حوادث افزوده که به هدف رفع مشکلات احتمالی فنی، قطعات و تجهیزات یدکی مورد نیاز نیز در اختیار نمایندگان محل قرار داده شده است.

قابل ذکر است، هدف از تطبیق این پروژه، افزایش مصونیت باشندگان و کاهش خسارات ناشی از سیلاب‌ها عنوان شده است.



بادغیس کې د ۴ پروژو چارې پیل شوې

د بادغیس ځايي مسئولین وايي، چې د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست په همغږۍ او د مهاجرینو نړیوال سازمان په مالي ملاتړ د قادس او ابکمري ولسوالیو کې د استنادي دېوالونو او پلچکونو د څلورو پروژو چارې پیل شوې دي.

د یاد ولایت مطبوعاتي دفتر باختراطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې په دغو پروژو کې د قادس ولسوالۍ د ارباب شاه محمود په کلي کې د ۹۲ مترو په اوږدوالي او ۴.۱۰ مترو په لوړوالي یو استنادي دېوال او د همدې ولسوالۍ د خواجه های خیرخانه په کلي کې د ۱۳۰ مترو په اوږدوالي او ۳.۸۰ مترو په لوړوالي بل استنادي دېوال جوړېږي. همدارنګه د قادس ولسوالۍ د زاد حکیم خیرخانه په کلي کې به د ۱۶۹.۵ مترو په اوږدوالي او ۴.۲۰ مترو په لوړوالي یو بل استنادي دېوال هم جوړ شي.

د دغو پروژو په چوکات کې به د ابکمري ولسوالۍ ...

۷مخ